

دا ُمت مسلمه د تربیّت مبارکه سلسله (۳)

# العملیات الاستشهادیة

# فدائی (استشهادی) حملی


اهتم به و اضاف الیه

الشیخ عبد المجید عبد الماجد

(استاذ السیاسة الشرعیة و فقه الواقع)

ساعد فی الترجمة و الترتیب

مفتی خالد شاه جهانگیروی

(شهادة التخصص فی الفقه الاسلامی و علوم الحدیث)



نوټ : هر مسلمان ته د چاپ کولو حق بغیر د څه تغیر او تبدیل نه شته دے ۔


دامت مسلمه د تربیت مبارکه سلسله (۳)

د فتنو په درياب کښې ډوبيدونکي شخصيات ۔ او د بدکردارو علماؤ رويّه ۔ چې د عيسايانو او يهوديانو سره مرسته کوي ۔ او د شيطان د منصوبو تکميل کوي ۔ مونږ وغوښته چې د امت مسلمه د تربيت له پاره يوه مبارکه سلسله روانه کړو۔ چې په توره شپه کښې يوه رڼرا وګرځي ۔

نو دا کتاب۔ (فدائی "استشهادی" حملی)۔ به د منهج الهی يو حفاظت وګرځي ۔ او حال دا دے ۔ چې فتنو او د وخت طوالت حق دوړه مند کړے دے ۔ په دی کتاب کښې مونږ خپلی او د خپلو ملګرو هغه تجربی درج کړی دی ۔ چې په مصيبتونو او امتحاناتو کښې مونږ حاصلی کړی دی ۔ د الله تعالی نه دعا ده ۔ چې حق غالب کړی ۔ او باطل برباد کړی ۔ او ز مونږ غلطۍ معاف کړی ۔ او مونږ له د دی نه فائده نصيب کړی ۔ او الله تعالی په دی څۀ قادر دے ۔

مؤلف

د اُمت مسلمه د تربيَت مباركه سلسله (۳)

العمليات الاستشهادية

# فدائی (استشهادی) حملی

اهتم به و اضاف اليه

الشيخ عبد المجيد عبد الماجد

(استاذ السياسة الشرعية و فقه الواقع)

ساعد في الترجمة و الترتيب

مفتي خالد شاه جهانگيروی

(شهادة التخصص في الفقه الاسلامي و علوم الحديث)

نوټ: هر مسلمان ته د چاپ کولو حق بغير د څه تغير او تبديل نه شته دے ۔

## فهرست


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه د جهاد فرضیت او د شهادت منقبت | ۱ |
| ۲ | د فدائی حملو په شریعت کښې څه حکم او حیثیت دے | ۸ |
| ۳ | أول : د دین د مظبوتیا لپاره ځان وژل جائز دی | ۹ |
| ۴ | وس د علماؤ أقوال چې د یو کس حمله په ډیرو دښمنو صحیح ده اګر که مرګ ئې یقیني وي | ۳٦ |
| ۵ | پدیکې فرق نشته چې سړے ځان پخپله مړ کړي او که په بل چائې وه وژني | ۴۴ |
| ٦ | څلورم : چا چې د دین د مصلحت په خاطر ځان وه واژه دا هغه منعې څخه بهر دي چې د ځان وژلو باره کښې ده | ۴٦ |
| ۷ | پنځم : چا چې د لله لاره کښې ځان مرګ ته پیش کړو دا د ځان حلاکونکې ندی | ۴۷ |
| ۸ | شپږم : صبر او جنګ بهتر دی له هغه چا لپاره چې باور ئې شي چې دښمن مې نیسي جنګ دی وکړي او دښمن ته دی ځان نه سپاري | ۴۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۹ | أووم : په مرگ صبر کول او د کفر کلمه نه ویل | ۵۲ |
| ۱۰ | أتم : د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر په سبب مرگ قبلول بهتر دی | ۵٦ |
| ۱۱ | د فدائی حملو په شان کښی د شیخ حمود بن عقلاء الشعیبی فتوه | ۵۹ |
| ۱۲ | أول د قرآن کریم څخه دلائل | ٦۳ |
| ۱۳ | دویم له أحادیثو څخه دلیلونه | ٦۴ |
| ۱۴ | دریم اجماع | ٦۷ |
| ۱۵ | بعضی هغه مسئلی چی د فدائی حملو سره سمون خوری | ٦۹ |
| ۱٦ | خلاصه | ۷۱ |
| ۱۷ | د محترم شیخ علی بن خضیر الخضیر فتوی د فدائی حملو باره کښی | ۷۴ |

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه د جهاد فرضیت او د شهادت منقبت

**الله تعالی فرمائی :** " ان الله اشترىٰ من المؤمنين أنفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة يقاتلون في سبيل الله فيقتلون و يقتلون وعدا عليه حقا في التوراة و الانجيل و القرآن و من أوفى بعهده من الله فاستبشروا ببيعكم الذي بايعتم به و ذلك هو الفوز العظيم "(۱)

**ترجمه ـ الله تعالی پېرلي دي ـ د مؤمنانو څخه د هغوی ځانونه او مالونه په بدله د جنت کښې چې جنګیږی ـ به د الله تعالی په لاره کښې د الله تعالی دښمنان به وژنی ـ او خپله به هم شهیدان کیږی ـ دا وعده الله تعالی په ځان لازمه کړې ـ په تورات ، انجیل او قرآن کریم کښې او چا چې د الله تعالی سره دغه وعده پوره کړه ـ نو زیری دی واخلی ـ په دغه سودا چې الله تعالی سره مو وکړه ـ "ځان او مال مو ورکړه او جنت مو واغستو" او هم دا لویه کامیابی ده ـ**

و عن المقدام بن معديكرب أن رسول الله ﷺ قال : ( ان للشهيد عند الله خصالا : يغفر له من أول دفعة من دمه ، و يرى مقعده من الجنة ، و يحلى حلية الايمان ، و يزوج من الحور العين ، و يجار من عذاب القبر ، و يأمن الفزع الأكبر ، و يوضع على رأسه تاج الوقار الياقوتة منه خير من الدنيا و ما فيها ، و يزوج اثنين و

---

(۱) ـ سورة التوبة آية : ۱۱۱ ـ

سبعين من الحور العين ، و يشفع في سبعين انسانا من أقاربه )(٢)

ترجمه ـ مقدام بن معديكرب فرمائي ـ چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : الله تعالى د شهيد په څو شيانو اكرام كوي : ټول ګناهونه ئې د وينې د أول څاڅكي د توېدو سره وربښي ـ په جنت كښې چې د ده كوم ځائې دي هغه وينې ـ د ايمان ګاڼړه ورته أغوستلې كيږي. د ډيرو ښكلو سترګو ښځينې حورې ورته په نكاح كيږي ـ د قبر د عذاب څخه په أمن أوژغورل كيږي ـ د قيامت د ورځې د سختې ويرې څخه به په امن كښې وي ـ د قيامت په ورځ به ورته د عزت تاج په سر كيږي ـ چې يوه ملغره ئې د دنيا او څه چې دنيا كښې دي ټولو نه بهتره ده ـ دوه أويا(٧٢) حورې به په جنت كښې ورته په نكاح كيږي ـ او د أويا تنو خپلوانو سفارش به ئې قبليږي ـ

هر كله چې د شهيد او شهادت داسې لويه مرتبه ده ـ نو روا ده چې څوک د شهادت غوښتنه وكړي ـ أو يا د الله تعالى په لار كښې د مرګ خواهش وكړي ـ لكه عبدالله بن حجش رضي الله عنه چې فرمائيلي : يا الله ما سره د مشركانو يو سړي مخامخ كړه ـ چې كفر ئې لوئې وي سخت جنګي وي ـ زه ورسره وجنګيږم بيا مې شهيد كړي ـ أو سامان مې هم راڅنې واخلي ـ پوزه او غوګونه مې هم پرې كړي ـ

---

(٢) ـ رواه أحمد و الترمذي بسند صحيح

بیا چې زه له تا سره مخامخ شم ـ ته راته ووائې ـ چې عبدالله بن جحش دا مثله دربانده ولې شوې ده؟ زه وو وایم : یا الله دا ستا لپاره ـ(۳)

لدې کبله امام بخاري په خپل صحیح کښې باب ایښې دے ـ (باب الدعاء بالجهاد و الشهادة للرجال و النساء) باب دې په بیان د غوښتلو د جهاد أو شهادت د نرو او ښځو لپاره او عمررضي الله عنه فرمائي ـ یا الله ستا د حبیبﷺ په ښار کښې راته شهادت په برخه کړه ـ(۴)

او الله تعالی په مؤمنانو لازمه کړې ـ چې د هر هغه چا سره وجنګیږي ـ چې د الله تعالی دین ته غاړه نه ږدي ـ دې لپاره چې له دنیا څخه شرک ختم او دین کامل شي ـ اللهتعالی فرمائي: و قاتلوهم حتی لا تکون فتنة و یکون الدین کله لله ـ(۵)

بل هغه څوک چې په دې زمانه کښې ورسره جنګیدل واجب دي ـ هغه واکداران أو حاکمان دي ـ چې د خلکو فیصلې د الله په دین نه کوي ـ بلکې د ځان نه جوړ شوي قانون باندې ئې کوي ـ او د مسلمانانو سره دشمني او جنګ کوي ـ د کافرو سره دوستي کوي ـ یهود أو نصارٰی ته د دوستۍ لاسونه ورکوي ـ

ابن کثیرؒ د مسلمانانو اجماع او یو والے ذکر کړے ـ چې له دوی

---

(۳) ـ زاد المعاد ۲/۱۱۲ بتحقیق شعیب و عبد القادر الأناؤوط

(۴) ـ فتح الباری ، ج ۶/۱۰

(۵) ـ سورة الأنفال ، الآیة : ۳۹

سره جنګ واجب او حتمي دے ـ(۶)

او دا حکام د کفر هغه مشران دي ـ چې الله تعالى د هغوی په حق کښې فرمائي : "فقاتلوا أئمة الكفر انهم لا أيمان لهم لعلهم ينتهون "(۷)

ترجمه :ـ وجنګيږئ د کفر مشرانو سره نه پوره کوی دوی خپل قسمونه ـ وجنګيږئ دی لپاره چې منع شي د شرک يا د مسلمانانو د تعذيب أو جنګ څخه ـ

او پدی علماؤ اجماع کړی ده ـ چې د کافرو لپاره د مشرئ حق نشته ـ او که يو مسلمان کافر شو ـ دا به د مشرئ څخه لرې کولے شي ـ او د ده طاعت به نه کيږی ـ څوک به ئې خبره نه مني ـ او په مسمانانو لازم دي ـ چې د ده مقابله وکړی ـ او د مشرئ څخه ئې لرې کړی ـ(۸)

لدی کبله کله چې مسلمانانو جهاد خپل فرض ګڼړه ـ تو له دنيا کښې دوی عزتمند وو ـ خو کله چې ئې جهاد پريښود ه الله تعالى ذليل او خوار کړه ـ د خپل عمل بدله الله تعالى ورکړه ـ لکه نبی ﷺ فرمائي : (اذا تبايعتم بالعينه ، و أخذتم أذناب البقر ، ورضيتم بالزرع ، و تركتم الجهاد ، سلط الله عليكم ذلا لا ينزعه حتى ترجعو الى دينكم )(۹)

---

(۶) ـ البدايه و النهايه ، ج ۱۱۹/۱۲ ـ تفسير ابن كثير ، ۶۷/۲

(۷) ـ سورة التوبه ، الآيه : ۱۲

(۸) ـ صحيح مسلم بشرح النووی ، ج ۲۲۹/۱۲ ، و فتح البارى ج ۹/۱۲

(۹) ـ رواه ابوداود من حديث ابن عمرؓ

ترجمه :ـ کله چې تاسو د سود سودا شروع کړه ،أو د غواګانو لکۍ مو ونیولې ، یعنې مالداري ته مو مخه کړه ،او په فصلونو خوشحال او مصروف شوي ، یعنې ذمې داري مو خوښه کړه ،او جهاد مو پرېښوده ،راګیر به کړي الله تعالی تاسو په داسي خوارۍ چې نه به ئې لرې کوي ـ تر څو خپل دين ته ستا نه نشې ـ

دي حدیث کښې رسول اللهﷺ جهاد پرېښودل د خوارۍ او بې عزتۍ سبب وبللو ـ او ټول عزت ئې په جهاد کښې وفرمایه ،او جهاد ته ئې دين ووایه ـ

امام قرطبيؒ په تفسیر د دې قول د الله تعالی کښې " کتب علیکم القتال و هو کره لکم "(۱۰)

فرمائي : چې أبو عبیده فرمائي : تاسو به هغه تکلیف چې په جهاد کښې دی بد ګڼرئ ـ خو دا تاسو لپاره بهتر دی ـ ځکه تاسو د جهاد په ذریعه په دښمن برلاسی کیږئ ـ غنیمتونه ترینه لاس ته راوړئ ـ اجرونه حاصلوئ ـ چې څوک مړ شي شهید مری ـ او تاسو د جهاد څخه پسته پاتې کیدل خوښوئ ـ خو دا تاسو لپاره بد او شر دی ـ ځکه چې دشمن تاسو باندې برلاسی کیږي ـ او تاسو ذلیله کیږئ ـ او خلافت او مشران مو له لاسه ځي ـ

---

(۱۰) ـ سورة البقرة الآية : ۲۱٦

قرطبي وائي دا خبره څرګنده ده ـ ځکه کله چې مسلمانانو په اندلس کښې جهاد پرېښود او تنبلي ئې وکړه وتختيدل ـ نو د اندلس ښارونه کفارو پامال کړل ـ څه مسلمانان ئې وه وژل ـ او نور ئې بنديوان کړل ـ(۱۱)

حافظ ابن حجر د جهاد د پرېښودلو په اړه کښې د دې حديث شرحه کوي : (لغدوة أو روحة في سبيل الله خير من الدنيا و ما فيها )

ترجمه ـ سحر يا ماښام د الله تعالى لار کښې وتل د دنيا او څه چې د دنيا په مخ دي (د الله په لار کښې وتل ترې) بهتر دي ......

بيا فرمائي ـ چې جهاد څوک پرېږدي ـ مقصد ئې د دنيا کوم خواهش پوره کول وي ـ نو رسول الله ﷺ دغې سړي ته تنبيه ورکړه ـ چې د دنيا پدې لګ شي جهاد مه پرېږده ـ ځکه په جهاد کښې يو ځل وتل د ټولې دنيا او د هغې د سامانونو څخه بهتر دي ـ(۱۲)

مخکې آيتونه او حديث د دې شاهد وه ـ چې شهادت ډير بهتر دي ـ د کفر مشران او د هغوی امداديان وژل واجب دي ـ د جهاد پرېښودل او دنيا غوره کول ذلت او رسوائي ده ـ او جهاد کول او شهادت غوښتلو کې عزت دے ـ

رسول الله ﷺ فرمائي ـ بهترين انسان هغه دے ـ چې د الله په لار کښې د مال او ځان سره ووځي ـ او بيا هم بير ته واپس نکړي ـ

---

(۱۱) ـ تفسير قرطبي ، ج ۴۲/۲ ، ط دار الحديث

(۱۲) ـ فتح الباري ، ج ۱۴/۶

عن أبي هريرةؓ أن رسول الله ﷺ قال : ( ألا أخبركم بخير الناس : رجل آخذ بعنان فرسه في سبيل الله ـ ألا أخبركم بخير الناس منزلة بعده رجل معتزل في غنم أو غنيمة يقيم الصلاة و يؤتي الزكاة و يعبد الله لا يشرك به شيئا )(۱۳)

ترجمه : أبو هريره فرمائي چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي ـ زه تاسو نه خبروم په هغه چا چې تولو انسانانو کښې بهتر دي ـ هغه کس چې د خپل اس واگې ئې نيولې وي ـ او د الله په لار کښې ځغلي ، او لدې څخه روسته چې کوم بهتر انسان دي ـ هغه دي ـ چې د خلکو څخه ځانته په يو طرف کښې خپلې بزې څروي ـ دلمانځه پابندي کوي ـ زکات ورکوي ـ او د الله عبادت کوي ـ هيڅوک د الله سره نه شريکوي ـ

او همدا رنگه د ابن عباسؓ په روايت کښې فرمائي : د هغه سړي نه غوره څوک نشي کيدائي ـ کوم چې د خپل اس سر نيولي وي ـ د الله په لار کښې جهاد کوي ـ او د خلکو د شرونو سره په امن وي ـ(۱۴)

نو څرگنده شوه ـ چې بهتر هغه څوک دي ـ چې د جهاد لپاره تياري کوي ـ شهادت لټوي له کوم ځايه چې د جهاد چغه اوري ـ هغې طرفته الوزي ـ تردې چې مرگ ورته راشي ـ لکه څنگه چې د ابو هريرهؓ په حديث کښې ذکر دي ـ

---

(۱۳) ـ رواه احمد برقم ـ ۱۰۲٦۱

(۱٤) ـ رواه احمد برقم ، ۱۸۸۳

عن ابی هریرة أن رسول اللهﷺ قال : (خير معايش الناس لهم رجل ممسك بعنان فرسه في سبيل الله و يطير على متنه كلما سمع هيعة أو فزعة طار اليها يبتغي الموت أو القتل في مظانه )(١٥)

نو چا چې خپل نفس الله ته وړاندې کړه - او پرې خوشحاله وو - د ده نه غوره او بهتر انسان نشته -

<u>د فدائي حملو په شريعت کښې څه حکم او حيثيت دے</u>

پدې بحث کښې به دلائل او د علماؤ أقوال د فدائي حملو په جواز کښې ذکر کوو - او دا بحث لاندې شاخونو ته ويشو :-

أول :- د دين د مظبوتيا او خکاره کولو لپاره ځان ختمول جائز دی-

دوهم :- جهاد کښې د مرګ ځايونو ته ننوتل په اجماع د علماؤ سره جائز دی -

دريم :- جائز دی چې سړے يوازې په ډيرو دښمنانو حمله وکړی - اګر که يقين ئې وی - چې زه پکښې مړ کيږم -

څلورم :- چاچې ځان د دين د مصلحت لپاره وه وژلو دا هغه مرګ ندے له کوم چې منع شوی ده -

پنځم :- چا چې د الله لار کښې ځان مرګ ته پيش کړو - ديته هلاکت نشي ويلائی -

---

(١٥) - رواه مسلم برقم ٢- ٣٥ ، و ابن ماجه برقم ٢٩٦٧

شپږم :- دا بهتره ده - چې انسان جنګ وکړی - تر څو چې مړ شي- لدینه چې ژوندی ونیولے شي -

أووم :- مرګ قبلول بهتر دی - له کفرد کلمی دویلو څخه -

أتم :- دا بهتره ده - چې سړے مړ شي - خو امر بالمعروف او نهی عن المنکر پری نګدی -

<u>أول : ددین د مظبوتیا لپاره ځان وژل جائز دی</u>

الله تعالی فرمائی : "قُتل أصحاب الأُخدود النار ذات الوقود اذ هم علیها قعود و هم علی ما یفعلون بالمؤمنین شهود و مانقموا منهم الا أن یؤمنوا بالله العزیز الحمید "(١٦)

ترجمه : وه وژلی شول خاوندان د ډوغرکو ، چې دا ډوغرکی دا أوور وو ، خاوند د بلو لمبو ،کله چې دا کافر د أوور سره ناست وو - او دوی هغه څه چې په مؤمنانو ئی کول لیدل ئی او حاضر وو - او بده نوه ګنړلی دوی د مؤمنانو څخه مګر دا چې هغوی ایمان راوړے وو - په هغه الله چې غالب او د صفتونو واله دے -

امام مسلم په خپل صحیح کتبی د أصحاب الأخدود واقعه ذکر کړیده - د صهیبؓ په روایت سره هغه وائی - چې رسول اللهﷺ فرمایلی دی -

---

(١٦) - سورة البروج ،الآیه : ٤: ٨

پـه مـخـکنيي زمانه کښې يو بادشاه وو ـ او هغه سره يو ساحر يـعـنـي جادوګـر وو ـ کـلـه چې دغه ساحر بډا شو ـ بادشاه ته ئي عرض وکړو ـ چې ماتـه يـو هـلک راوليږه ـ چې خپل سحر هغه ته وښايم ـ هـغـه ورته يو هلک وليږه ـ هغه ورته سحر زده کوو ـ خو دا هلک چې بـه کـلـه د سـاحـر خوا نه تللو ـ په لار کښې يو راهب (هغه څوک چې د اللـه عبـادت کـوی) وو ـ دا هـلک هـغـه سره کيناستو ـ او د هغه خبرې چې ئـې واوريدلې خوښې ئې شوې ـ بيا به چې هر وخت چې ساحر ته تـلـلـو ـ د راهـب سـره بـه هم يوه ګړی کيناستـه ـ ساحر ته به چې راغلو هـغـه بـه وهـه چې ولې ناوخته راغلی ـ نو راهب ته ئي شکايت وکړو ـ چې سـاحـر مـې وهـي ـ هـغه ورته طريقه وښودله ـ چې کله دې ساحر وهـي ورتـه وايه چې کور کښې حصار ووم ـ د څه کار لپاره ـ او کله چې د کـور څـخه يريږې ـ وايه چې ساحر حصار کړی ووم ـ ده به همدغسې کـول ـ يـوه ورځ پـه لار روان وو ـ ويـنې چې يو لوئې حيوان دے ـ لار ئې بـنـده کـړيـده ـ او ټـول خـلک ئـې حـصار کړيدی ـ هلک د ځان سره وه وئـيـل چې نـن بـه مـعـلـومـه شي ـ چې د ساحر کار صحيح دے او که د راهـب ـ نـو يـوه ډبـره ئـې راواخـستـه ـ او وی وئـيـل يا الله که تاته د راهب کـار د سـاحر له کار څخه خوښ وی ـ نو دا حيوان مړ کړه ـ چې دا خلک تيـر شـي ـ کـلـه ئې چې ډبره باندې حيوان وو ويشتـه ـ هغه مړ شو ـ او خـلـک ټـول تيـر شـول ـ بيا دا هلک راهب ته راغلو ـ او قيصه ئې ورتـه

واورولـه ـ راهب ورتـه وو وئيل : بچيه ته وس زما څخه هم بهتر ئې ـ زه وينم چې ستا کارونه ډير لوی دی ـ په تا به وس ضرور أزمائيښت راځي ـ خـو ما به چاته نه ښائې. دينه روستو هلک د ړندو أو د برګې مرض او نـورو مـختـلفو مرضونو دواء کوله ـ او الله تعالى به روغول ـ د بادشاه د مـجلس يو کس چې ړوند شوے وو ـ دا خبره واوريدله ـ نو ډيری هدئې ئې دی هلک ته راوړلې ـ او ورته وه ئې وئيل ـ که زه ډ روغ کړم ـ دا ټول شيـان ستـا شـول ـ هلک ورتـه وه وئيـل چې زه خـو څـوک نـه شـم روغـولے. صـحـت خـو الله تـعـالى خلکو ته ښئي ـ که ته په الله تعالى ايمان راوړې ـ زه به ستا لپاره دعاء وغواړم ـ او الله تعالى به تا روغ کړي. هغـه ايـمـان راوړو ـ الله تـعـالـى روغ کړو ـ بيا چې کله د بادشاه دربار ته راغـلـلـو ـ بـادشـاه تـريـنـه پـوښتـنه وکړه ـ چې دا سترګې دې بيرته چا درويښـلـى ـ هـغـه وه وئيـل دا مى رب راوبښلى ـ بادشاه ورته وه وئيـل : زمـا نـه غيـر دی بل رب شته ؟ هغه ورته وه وئيل : او زما او ستا رب الله دی ـ بـادشـاه هغه ته تعذيب ورکړه ـ چې دا خبره تاته چا وښودله ـ هغه مـاتـه راپـه ګـوتـه کـړه ـ آخر ئـې ورته هلک وروښودلو ـ بادشاه هلک راوستـلـو ـ او ورتـه ئـې وه وئيـل ـ زه خبر شوے يم ـ ستا سحر ډير قوی دے ـ تـه پـرې ړانـده او بـرګـې مـرض روغـوې ـ او نـورې بيمارياني پرې روغـوې ـ هـلـک ورتـه وو وئيـل ـ زه خو څوک نشم رووغولے ـ صحت خو الله تعالى ورکوی ـ بادشاه هلک ته تعذيب ورکړو ـ تر څو راهب ئې

وښوده ـ راهب ئې راوستلو ـ ورته وه ئې وئيل ـ له دين څخه دې واوړه ـ هغه انکار وکړو ـ بيا ئې آره د هغه د سر په منځ کيښوده ـ او دوه ځائې ئې کړو ـ بيا ئې خپل وزير راوغوښته ـ هغه ته ئې وئيل ـ لدې دين څخه واوړه ـ هغه هم منکر شو ـ هغه ئې هم د آرې په واسطه ده ټوټې کړو ـ بيا ئې هلک راوغوښته ـ هغه ته ئې وه وئيل ـ له دين څخه دې واوړه ـ هغه هم انکار وکړو ـ هغه ئې خپلو څو عسکرو سره کړو ـ ورته ئې وه وئيل ـ د غره سر ته ئې بوځئ ـ که له دې دين سره واوخته ښه ده ـ ګنې د غره سر څخه ئې راوغورځوئ ـ هلک ئې چې کله د غره سر ته ورسوو ـ هغه وه وئيل يا الله له دوی څخه مې په هغه څه چې ته ئې غواړې وژغوره ـ غر وجړکيدو ټول ترينه ولويدل ـ او هلک روغ بيرته بادشاه ته راغې ـ بادشاه ترينه پوښتنه وکړه ـ چې ملګرې دې څه شول ـ هغه وه وئيل د هغوی څخه الله زه وژغورلم ـ او هغې ئې هلاک کړل ـ بيا ئې څو عسکرو ته حکم وکړو ـ چې کشتۍ کښې د بحر منځ ته لاړ شئ ـ هلته دې بحر ته وغورځوئ ـ هغوی باندې هم هلک دعاء وکړه ـ د هغوی کشتۍ چپه شوه ـ ټول هلاک شول هلک بيا بادشاه ته راغې ـ او ورته ئې وه وئيل ـ چې په دې طريقه ما نشې وژلې ـ ته به ما په هغه طريقه وژنې چې زه کومه درښايم ـ بادشاه وه وئيل وښايه ـ هلک وه وئيل : ټول خلک به په يو هموار ځائې کښې راجمع کړې ـ بيا به ما په يو تنه پورې وځړوې ـ بيا به زما د

غشـو د کـځوړکي څخه غشي راواخلي ـ غشي به لنډه کښي کيږدي ـ او وه بـه وائي ـ (بسـم الله رب الغلام) د دي هـلک د رب پـه نـامه دا هلک ولـم. بيـا مـي ولـه زه به مړ شم ـ بادشاه هم دغه طريقه وکړه ـ هلک ئي پـه ځپ وو ويشـتو ـ لاس ئي په ځپ کيښوده او مړ شو ـ نو ټولو خلکو په يو آواز چغي وهلي (آمنا برب الغلام) مونږ د هلک په رب ايمان راوړي دي ـ څوک بادشاه ته راغلو وه ئي وئيل ـ چي له کوم شي څخه چي ته ويريدلې په هم هغه کښي ولويدي ـ ټولو خلکو ايمان راوړه ـ

بـادشـاه امـر وکـړو ـ چـي د هـري کـوڅـي پـه خوله کښي کنده (ډوغـرکـي) وکـني ـ چي وکنسـتـل شو أوورونه ئي پکي بل کړه ـ او أمر ئـي وکـړو ـ چـي څـوک لـه دين څخه نه واپس کيږي ـ په أور کښي ئي سـتـي کـړي ـ خـلـق بـه پـه خپـلـه راتـلل او په أوور کښي به ئي ځانونه اچـول ـ تـردي چـي يـوه ښـځـه راغـلـه ماشوم هم ورسره وو ـ چي أور ئي وليـدو وروسـتـو شوه ـ ځان ئي پکي وانچوه ـ ماشوم بچي ئي غږ وکړه : موري صبر وکړه أوور ته ودانگه ته په حقه ئي ـ(۱۷)

شـيـخ الاسـلام ابـن تـيـمـيـة فـرمـائـي : امام مـسلم چي په صحيح مسلم کښي د أصحاب الأخدود کومه واقعه ذکر کړيده ـ له هغي جوتيږي :ـ

----------------

(۱۷) ـ رواه مسلم في كتاب الزهد و الرقاق باب قصة أصحاب الأخدود و الساحر و الراهب و الغلام و رواه أحمد عن صهيبؓ

کوم ماشوم چې بادشاه ته امر وکړو ـ د ځان په وژلو ـ دا لدې کبله چې د الله دين خلکو ته واضح شي ـ لدې وجې نه څلورو امامانو د کافرو په صف کښې ننوتل جائز ګڼړلي دي ـ اګر که غالب ګمان دا وي ـ چې دے ترې ژوندے نشي راتلے ـ کله چې پکې د مسلمانانو مصلحت او خير وي ـ او کله چې د دې سپيڅلي هدف لپاره د ځان مرګ جائز شو ـ نو د بل داسې چا چې دا هدف د هغه د مرګ سوی نه ترسره کيږي ـ هم جائز دي ـ ځکه کله چې انسان د دين فائدې او د دښمن د ضرر لپاره سر ورکوي ـ نو کـه پـدې کښې بـل بې ګنـاه کـس مړ شو ـ هم پروا نشته ـ(۱۸)

لدې حادثې څخه څو فائيدې معلوميږي ـ

۱) ـ دغه هلک ځان په خپل امر او اراده وه وژلو ـ ځکه بادشاه دوه ځله د ده د مرګ ناکامه کوښښ وکړو ـ خو کامياب نه شو ـ ځکه خو هلک په خپله بادشاه ته د ده د وژلو طريقه وښودله ـ او هغه دا چې : خلک راجمع کړه ـ په ميدان کښې او ما په يوه تنه وځړوه ـ بيا زما له غشو څخه يو غشے راواخله په لينده کښې ئې کيږده ـ بيا وه وايه (بسم الله رب الغلام) د دې هلک د رب په نامه دا هلک ولم ـ نو داسې چې وکړې ما به وه وژنې ـ

---

(۱۸) ـ مجموعة الفتاوى، ج۲۸/۰ ۵٤

۲) ـ د دې وژنې مقصد دا وو ـ چې دين خلکو ته ورسيږي ـ او دليل پرې قائم شي ـ خلق د الله تعالى په دين کښې داخل شي ـ نو دا مرګ د دعوت د کاميابيدو لپاره وو ـ او هغه يو شرعي او سپيڅلې هدف وو ـ او دا لدې څخه هم روڼ او واضحه وو ـ چې سړے د ځان مرګ د دښمن د تباهۍ په خاطر قبول کړي ـ او د هغوي په ليکو کښې ننوځي ـ

۳) ـ دا واقعه قرآن کريم د مدحې او صفت او د مؤمنانو د ټينګ عزم په مناسبت ذکر کړيده ـ ولې چې مؤمنانو مرګ خوښ کړه ـ خو کفر ئې خوښ نکړو ـ

لدې کبله امام قرطبيؒ فرمائي په تفسير د دغه آياتونو کښې : زمونږ علماء فرمائي ـ الله تعالى پدې آياتونو کښې د دې امت مؤمنان خبر کړل ـ چې مخکې امتونو کښې چې کوم خلقو توحيد منلے دے ـ هغوي ته څومره تعذيب ورکړے شوے دے ـ چې امت ورسره هم عادت شي ـ

او رسول الله ﷺ د هلک قصه ذکر کړه ـ لدې کبله چې صبر وکړي ـ په هغه مصيبتونو تکليفونو او دردونو چې په مؤمنانو تيريدل ـ لکه څنګه چې دغه هلک د مصيبت په وخت کښې مظبوتيا ښکاره کړه ـ او په حق کلک ودريدو ـ

همدغسې الله تعالى دلقمان حکيم څخه نقل کړي ـ چې خپل ځوی ته ئې نصيحت کولو :

" يا بنى أقم الصلاة و أمر بالمعروف وانه عن المنكر و اصبر على ما أصابك ان ذلك من عزم الأمور "(١٩)

ترجمه : اے بچيه د لمانځه پابندي كوه ـ د نيكو امر او له بدو څخه منع كوه ـ په تكليفونو صبر كوه ـ دا هغه كارونه دي چې ټينګ پرې ودريدل پكار دي ـ

همدا شان أبو سعيد الخدريؓ د نبي ﷺ نه نقل كړي فرمائي :

" ان من أعظم الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر "(٢٠)

دا هم لوئى جهاد دے ـ چې د ظالم بادشاه په مخ كښې د انصاف خبره وكړي ـ

محمد بن سنجود أميمه چې د رسول الله ﷺ وينځه وه نقل كوي ـ هغه فرمائي : ما د رسول الله ﷺ لپاره د اودس اوبه كيښودې ـ يو سړے راغے ورته وه ئې وئيل ماته وصيت وكړه ـ نبي ﷺ ورته وفرمائيل : (لا تشرك بالله و ان قطعت أو حرقت بالنار......(٢١) ـ د الله سره شرک مه كوه ـ اګر كه ټوټې شې ـ او يا په اوور كښې ستې شې ـ

بيا فرمائي ـ چې د رسول الله ﷺ ډيرو ملګرو باندې د وژلو د

---

(١٩) ـ سوره لقمان ، الآيه :١٧

(٢٠) رواه أحمد و ابن ماجه و البيهقى و الطبرانى فى الكبير و ابن عدى عن أبى أمامه و أحمد و النسائى و البيهقى عن طارق ابن شهاب ، و الحاكم عن أبى سعيد و اسناده جيد

(٢١) ـ رواه ابن ماجه فى كتاب الفتن و أحمد فى مسنده و هو حسن

أويـزانـولـو د سـخت تعذيبونو أزمائيښت شوي دي ـ خو هغوی دی ته هيڅ أرزښت ندی ورکړی ـ

او د بيـلـګـی لپـاره د عـاصم خبيب او دهغوی د ملګرو قيصی کافی دی ـ چی هغوی د کوم جنګونو ،تکليفونو ،وژنو ، سوزيدو او يا هـم د بـنـدی کيدو سره مخامخ شوی وه ـ په (النحل) کښـی د دی اجماع ذکر شوی ـ(۲۲)

لـدی څـخـه څـرګـنـده شـوه ـ چـی هلک بادشاه تـه د قتل امر وکـړو ـ دا ظـلم نه وو ـ لکه روستو په دی د ابن حجرؒ اجماع ذکر کوو ـ او دا هـم امـکـان لـری ـ چـی دا دی ځـان هلاکت تـه غورځول وی ـ د دی تفصيل هم روسته پدی آيت کښی راځی ـ (و لا تلقوا بأيديكم الى التهلكة) سره د عمرؓ او أبو أيوب الأنصاریؓ د رواياتو ـ

۴) ـ هـغـه خـلک چی د هلک په رب ئی ايمان راوړو ـ په خپله خوښه ئی مـرګ غـوره کـړو ـ پـه کـفـر د ديـن خـکاره کولو لپاره ـ لکه څنګه چی په حـديث کښـی تيـر شـول ـ چـی بـادشـاه د کوځو په خولو کښی أورونه بل کـړل ـ خـلک پـه خپـلـه راتـلـل او أور تـه ئـی ځـانـونه اچول ـ او کفر ئی نه قبـلـوو ـ نو دا ظلم نه وو ـ او نه ځان هلاکت ته غورځول وو ـ بل که دا عمل الله تـعـالـی ته ډير خوښ وو ـ او ستاينه ئی ورله کړی ده ـ برسيره پدی چی پديکی څو مره حکمتونه او خيرونه وو ـ فقط الله تعالی ته معلوم دی ـ

(۲۲) تفسير القرطبي ، ج ۴۹۲/۱۹ ـ ط مكتبة المعارف ، دمشق

**۵)** - دا چې پدې حدیث کښې دا خبره ځانله ده - چې د ځان وژل د دیني مصلحت لپاره جائز دي - شیخ الاسلام ابن تیمیه دا دلیل کړی - پدې چې سرې د کافرو په لیکو کښې ورننوځي - لکه مخکې ئې ذکر وشو - او همدا شان شیخ محمد بن ابراهیم آل شیخ دا دلیل ګرځولې - د بل مصلحت لپاره او هغه دا چې بندې ځان وژلې شي - کله چې پرېږي چې د مسلمانانو رازونه به افشاء کړي - لکه روستو به راشي - نو دا حدیث یو قاعده شوه - چې ډیر شکلونه پرې قیاس کیدائې شي -

دلته بیا دا سوال پیدا کیږي - چې دې حدیث کښې کومه واقعه ده - دا د مخکښو امتونو دین دې - او هغه زمونږ لپاره شرعه نشي کیدائې - ځکه شیخ الاسلام او نورو علماؤ دا په دلیل کښې پیش کړي - او دا هغه شرعه ده - د پخوانیو چې زمونږ شرعي پرې اقرار کړي او صحت ئې ورله بیان کړي -(۲۴)

---

(۲۴) - شرع من قبلنا څخه مراد د پخوانیو امتونو شرعه ده - بیا د علماؤ په دې کښې اختلاف نشته چې د پخوانیو امتونو شرعه زمونږ شرعه ده - کله چې زمونږ شرعه کښې داسې دلائل وي - چې هغه واجبوي او یائې صحیح کوي - او پدې هم اتفاق دې - چې د پخوانیو شرعه زمونږ شرعه نشي کیدائې کله چې زمونږ شرعه کې د هغې خلاف وي - بلکې خلاف په دیکښې دې - چې زمونږ شرعه کښې د هغې شرعي نه تائید وي او نه ئې بطلان وي - نو دا زمونږ لپاره شرعه کیدائې شي او که نه - صحیح خبره دا ده (و الله اعلم) چې شرع د پخوانیو زمونږ لپاره شرعه ده -.

٦) ـ د داعیانو او د رسولانو همدا شعار او طریقه ده ـ چې په تکلیفونو صبر کول، په حق ټینګ ودریدل، دد عوت مدد کول، د حق ښکاره کول، د بادشاهانو او ظالمانو په مخ اګر که پدې وه وژلی شي، او همدا د مؤمنانو لاره ده ـ لکه د فرعون د ساحرانو په واقعه کښې فرمائي:

"قالوا لن نؤثرك على ما جاءنا من البينات و الذي فطرنا فاقض ما أنت قاض انما تقضي هذه الحياة الدنيا انا آمنا بربنا ليغفر لنا خطايانا و ما أكرهتنا عليه من السحر و الله خير و أبقى" (۲۴)

ترجمه: ساحرانو وه وئیل ـ مونږ نه غوره کوو تا په هغه ښکاره دلائلو چې د هغې په واسطه مو هغه رب وپیژندو ـ چې مونږ ئې پیدا کړي یو ـ ته دې خپله فیصله په مونږ باندې چسپا کړه ـ ته په دنیا فیصله کولے شې ـ مونږ ایمان راوړے په رب خپل چې معاف

---

کله چې ز مونږ دین کښې دلسې څه نه وي ـ چې د هغې مخالف وي ـ لو دا څکه چې الله تعالی لو یاد هغه رسولﷺ د هغوی کومه واقعه ذکر کړي وي ـ او بیائې په هغې رد نه کړي ـ بلکې چپ پاتې شوي وي ـ نو دا دلسې حیثیت لري لکه ز مونږ شرعي چې پرې أقوال کړي وي ـ د دې مسئلې د زیات تفصیل لپاره راتللونکې مراجع وګورئ ـ المستصفى للغزالي ص:۱۳٤، الأحكام للآمدي ج۲ /۱۸٦، شرح مسلم الثبوت لعبد العلي محمد الأنصاري ج ۲/ ۱۸٤ـ۱۸٥، الاحكام لابن حزم ج ٤/٥ ۷٤، تفسير القرطبي ج ۲۸/۷، ط دار الحديث القاهره

(۲٤) ـ سورة طه الآية: ۷۲،۷۲

کړي۔ زمونږ گناهونه او هغه چې تا په زوره په مونږ جادو کړے ۔ او الله تعالی غوره دے۔ او پاتې کیدونکے دے ۔

همدغه شان امام أحمدؒ د هغه تکلیفونو کیسی له چا څخه پناه ندی ۔ چې د هغې له کبله الله تعالی د خپل رسول ﷺ د سنتو تحفظ وکړو ۔

قرآن کریم هم ددغه حقیقت تائید کړی فرمائي : " و جعلنا منهم أئمة يهدون بأمرنا لما صبروا و کانو بآياتنا يوقنون "(۲۵)

ترجمه: مونږ جوړ کړي وو ۔ له هغوی څخه مشران چې لاربښود وو ۔ زمونږ په امر کله چې ئې صبر وکړو ۔ او وودوی زمونږ په آیاتونو پوره یقین لرونکی ۔

او د هغه مؤمنانو طریقه وه ۔ چې کمزوري دی ځائي نلري په زمکه کښې ، او کوم وخت چې ځائے پیدا کړي په زمکه کښې بیا په نیکو امر او له بدو منع کوي ۔ او دا هم یو نوعه جهاد او دعوت ۔ لدی وجې نه الله تعالی فرمائي ۔

" الذين ان مكناهم في الأرض أقاموا الصلاة و آتو الزكاة و أمروا بالمعروف و نهوا عن المنكر و لله عاقبة الأمور "(۲٦)

---

(۲۵) ۔ سورة السجدة الآية : ۲٤

(۲٦) ۔ سورة الحج لآية : ٤١

ترجمه: مؤمنان هغه خلک دی ـ چی کله مونږ ځائی ورکړو دویته په ځمکه کښی بیا پابندی کوی ـ د لمونځونو او ورکوی زکاتونه د نیکیو امر کوی ـ او له بدو منع کوی ـ او الله لپاره انجام د ټولو کارونو دے ـ

دا د مؤمنانو لاره ده ـ او هغه تش په نامه مولایان چی پدی زمانه کښی لاره همواروی د طاغوت لپاره په خپلو هغه فتاوو چی جهاد پریښودو ته دعوت ورکوی ـ او کله چی د پیغمبرانو تابعدار د طواغیتو سره دښمنی او د براء ت اعلان وکړی ـ له هغوی نه جدا شی ـ نو دغه مولایان هغوی په بدو نومونو یادوی ـ او د کفر مشران د هغوی په مرګ تیزوی ـ او کله چی هم دغه طاغوتان د ځمکی واکداران شی ـ نو دغه منافق ملایان هم ورسره وی ـ د دوی بیا دغه حال وی ـ چی د اسلام د دښمنانو سره دوستی کوی ـ او د هغوی مخکی خپله عاجزی ښکاره کوی ـ لکه د نن زمانی د مسلمانانو د ملکونو چی کوم حاکمان او واکداران دی ـ دوی د الله د دښمنانو سره کله هم جهاد نکوی ـ تاته به دا وس خه په ډاګه وی ـ چی د پیغمبرانو تابعدار د خپل دین حفاظت کوی ـ په قرآن او په وسپنه لکه الله تعالی فرمائی :

" لقد أرسلنا رسلنا بالبينات و أنزلنا معهم الكتاب و الميزان ليقوم الناس بالقسط و أنزلنا الحديد فيه بأس شديد و منافع للناس و ليعلم الله من ينصره و رسله

بالغيب ، ان اللّٰه قوي عزيز "(۲۷)

ترجمه: يقينا مونږ ليږلي دي ـ خپل پيغمبران په واضحو دلائلو او نازل کړي مو دي پرې کتابونه او هغه قاعدې چې حق او باطل پرې معلوميږي دي لپاره چې ټينګ شي خلک په انصاف او راپيدا کړي مو ده وسپنه ديکې سخت قوت دے ـ او دخلکو فائدې دي پکې ، او دې لپاره چې ظاهر او ښکاره کړي هغه کسان چې د الله او د الله د رسول مرسته کوي په حالت د نه ليدو کښې ، الله تعالى مظبوط او غالب دے ـ

لدې څخه څرګنديږي ـ چې مؤمنان کله کمزوري وي ـ په ژبو او ژبو به جهاد کوي ـ او کله چې قوي وي ـ أمر بالمعروف او نهي عن المنكر او د کافرو سره به جهاد کوي ـ توحيد به خوروي ـ او په دې سره به فرق وپيژني د پيغمبرانو د موحدو تابعدارو او د هغه مفاد پرستو ملايانو چې د الله تعالى آياتونه د څو پيسو مقابله کښې پلوري ـ او د مرتدو خدمت کوي ـ او د مسلمانانو د دښمنانو نيابت کوي ـ الله تعالى فرمائي :

" و اذ أخذ اللّٰه ميثاق الذين أوتو الكتاب لتبيننه للناس و لا تكتمونه فنبذوه وراء ظهورهم و اشتروا به ثمنا قليلا فبئس ما يشترون "(۲۸)

---

(۲۷) ـ سورة الحديد ، الآية: ۲۵

(۲۸) ـ سورة آل عمران ، الآية: ۱۸۷

ترجمه: کله چې واغسته الله تعالی مظبوته وعده د أهل کتابو څخه چې دا کتاب به خلکو ته بیانوي ۔ او پټوي به ئې نه، وه غورځوو هغوی کتاب روستو له خپلو شاګانو (یعني عمل ئې پرې پرېښود) او غوره ئې کړې د هغې مقابل کښې څو پیسې نو ډېر بد دي، هغه څه چې دوی د کتاب مقابله کښې واخستل ۔

بل هغه څه چې د ځان وژل د دین غالبه کولو لپاره تائید وي هغه دي چې حافظ ابن کثیرؒ ذکر کړي ۔ چې (عکا) د سلطان له لاسه څنګه ووتله ۔

فرمائي: د جمادی الأولی په میاشت کښې د غربیانو (لعنهم الله) لښکرو د (عکا) ښار سخت محاصره کړو ۔ له هر لوري راغله او د انګریزانو ټولواک د ډېرو لوی لښکر سره چې تقریبا پنځه ویشت قطعې چې ټول جنګیان وو راغلل ۔ د سرحد سرتیري په ډېر سخت آزمائښت کښې پریوتل ۔ د خطر زنګونه ئې ووهل ۔ تر څو سلطان خبر شو د ښار سره نژدې ئې پړاؤ واچوؤ ۔ چې له ښار څخه بهر غربیان حصار کړي ۔ که څه هم غربیانو ښار محاصره کړے وو ۔ او أوه(۷) منجنیقه ئې نصب کړي وو ۔ چې په ښار ئې بې دریغه ډبرې ورولې ۔ او خاص کر په (عین البقر) نومې برج باندې تردې چې هغې کښې ئې غټ درز وکړو ۔

د ښار او غربیانو منځ کښې چې کوم خندق وو ۔ هغه ئې په خاروو مړو وغیره ډکوو ۔ تر څو پورې وزې ولې د ښار خلکو به بیر ته

نړوو ـ او هر څه بـه ئي ترې بير ته وغورځول ـ ناڅاپه د غربيانو فوج د مسلمانانو د ټولګيو سره مخامخ شول ـ چې له بيروت څخه د مسلمانانو مرستې ته ئې سامانونه او اسلحې راوړې وې ـ هغوی که څه هم کوښښ وکړه ـ ولې ښار ته غربيانو پرېښودل ـ لدې اسلحو او سامانونو سره شپږ سوه جنګيالي ځوانان وو ـ هغوی چې کله دا حالت وليدو هغوی هغه کښتيو ته چې د دوی سامان او اسلحه پکې وه ـ أور واچوو ـ او غرقې شوې چې کافرو ته په لاس ورنشي ـ او پخپله پکې هم غرق شول ـ کافرو ته هيڅ هم په لاس ورنغلل ـ اګر که مسلمانان ډير خفه شول ـ انا لله و انا اليه راجعون ـ(۲۹)

وس فکر وکړه ـ چې ابن کثيرؒ د هغوی دا عمل توصيف کړی ـ او په هغوی ئې رحم وئيلی دی ـ بيا دغه ځوانانو ته وګوره ـ چې خپلې کښتې ئې وسوزلې غرقې شوې ـ او په پخپله هم ئې ځانونه وه وژل ـ د دوه مصلحتونو له کبله ـ يو دا چې د کافرو په لاس ئې مرګ او بند نه خوښوو ـ او بل دا چې مالونه ئې کافرو ته په غنيمت کښې پاتې نشي ـ

دلته بايد يوه زړه وروونکې کيسه وکړو ـ هغه دا چې په اول د اتيايمې لسيزې کښې د درې مجاهدو شاه زلميانو چې عصام القمري

---

(۲۹) ـ البدايه و النهايه للحافظ ابن کثير ، ج ۱۲/۲٤۲ ، ۲٤۳ مکتبه المعارف :بيروت

او ابراهیم سلامه رحمهما الله او نبیل نعیم الله دی راخلاص کړی ـ او د مصر د مرتد مزدور نظام د مرکزی أمن د عسکرو په منځ کښې په (کنانه) نوم علاقه کښې نښته رامخکی شوه ـ چې په نتیجه کښې ئې مرتدی لښکری داسی وتختیدلې لکه د میږو ورمه شاته ئې مخ نه راګرځوو ـ د شاه زلمیانو د بمونو او بلو أورونو له کبله ـ کله چې دوی د أمن ځائې ته پناه یوړه ـ د ابراهیمّ له لاسه یو بم ولویدو ـ چې پټاقې نیونکې سیم پکې نه وو ـ کله چې چاودیدو هغه پری ځان واچوو ـ چې خپل دوه ملګری وژغوری ـ هغه ټوټې ټوټې شو ـ انشاء الله شهید شوی به وی ـ

دا د توحید هغه شاه سواران وو ـ دا د توحید هغه شاه سواران وو ـ چې له سنتو دفاع ئې کوله ـ د امریکا او اسرائیلو دښمنان وو ـ او تش په نامه د بې عمله ملایانو په نزد د هشتګرد ـ او د هغوی د هغه شاګردانو چې ځان ته د سلفیه دعوی هم کوی په نیز بدعتیان ـ او د چا په نزد خوارج او تکفیریان دی ـ " ربنا افتح بیننا و بین قومنا بالحق و أنت خیر الفاتحین "(۳۰)

پالونکیه زمونږ او د دغه قوم منځ کښې د حق فیصله وکړی ـ ته بهتر فیصله کونکے ئې ـ و حسبنا الله و نعم الوکیل ـ

---

(۳۰) ـ سورة الأعراف ، الآیة : ۸۹

دوهم: د علماؤ پدې اجماع ده ـ چې جهاد کښې د هلاکت ځايونو ته ځان اچول جائز دي ـ

امام بخاريؒ د صحيح البخاري په کتاب الاکراه کښې باب ايښے دے ـ

(باب : من اختار الضرب و القتل و الهوان على الكفر)ـ

باب دے ـ په بيان د دې کښې چې څوک وهل وژل او خوارې غوره کړي ـ په کفر بيائي د انسؓ حديث ذکر کړے ـ چې رسول اللهﷺ فرمائي :

ثلاث من كن فيه وجد حلاوة الايمان : ان يكون الله ورسوله أحب اليه مما سواهما ، و أن يحب المرء لا يحبه الا لله ، و أن يكره أن يعود في الكفر كما يكره أن يقذف في النار ـ

ترجمه : درې خويونه چې په چا کښې پيدا شو ـ نو د ايمان خوند به ومومي : چې الله او رسولﷺ ورته د بل هر چا څخه محبوب وي ، ديو چا سره چې مينه کوي صرف الله لپاره ئې کوي ، او کفر ته ستنيدل ورته داسې بد ښکاري لکه أور ته چې وغورځيږي ـ

ابن حجرؒ فرمائي : چې بلال هغه څوک وو ـ چې وهل او خوارې ئې خوښه کړه په کفر او د کفر د کلمې په وئيلو ـ او هم دغه شان خبابؓ او څوک چې له هغه سره وو ـ او د عمارؓ پلار او مور د تعذيب لاندې شهيدان شول ـ

بیا فرمائی : چی شریعت أور او کفر په بد گنړلو کښې برابر کړی دی ـ او دا خو څرګنده ده ـ چی مرګ وهل او خواری د أور څخه هم بهتر او آسان دی ـ دا ابن بطال توضیح ده ـ او هغه دا هم وئیلی چی پدیکی ا مام مالک د مذهب لپاره دلیل دے ـ لکه څرنګه چی ابن المتین وئیلی دی ـ چی علماء پدی متفق دی ـ چی مرګ د کفر په اقرار کولو بهتر دی ـ او دا حدیث په هغه چا رد کوی ـ چی وائی : په کفر اقرار کول د مرګ د قبلولو څخه بهتر دی ..... تردی چی فرمائی : د ټولو علماؤ پدی اجماع ده ـ چی جهاد کښې د هلاکت ځایونو ته ننوتل جائز دی ـ(۳۱)

دریم : روا ده چی یو مجاهد په ډیرو دښمنانو حمله وکړی په جهاد کښې

مخکی دوه داسی مثالونه چی مؤمنانو خپل ځانونه د دینی مصلحت لپاره وژلی وو ـ د قرآن او سنت څخه ذکر شول ـ او هغه دا چی یو هلک ځان وو وژلو ـ څکه بادشاه ته ئی د خپل مرګ طریقه وښودله ـ او بل د هغه مؤمنانو چی ځانونه ئی د أور کندو (دغروته) واچول ـ او په کفر ئی اقرار ونکړو ـ او شک ئی پکی هم ونه کړو ـ تردی چی یو ماشوم خپلی مور ته چی له أور څخه یریدله او شاته شوی وه ـ وه وئیل ـ موری أور ته ودانګه ته په حق باندی ئی ـ

---

(۳۱) ـ فتح الباری ، ج ۱۲/۳۲۰

بـل د هغه مجاهدینو قیصه ذکر شوه ـ چې خپلې کشتۍ ئـې وسـوزلې ـ او خپله ئې هم ځانونه ووژل ـ لدې کبله چې کافر رابانـدې غـالب نشي ـ او ځانونه او سامانونه مو ورته پاتې نشي ـ وس انشـاء الله د أحـادیثو او أصحابو له تاریخ بعضې هغه مثالونه چې مجاهدینو ځانونه د هلاکت ځائې ته غورځولي او دښمنان ئې وژلې ـ او بیـا د عـلـماؤ أقـوال ذکر کوو پدې باندې ـ او بیا به هغه واضـحـه کړو انشاء الله ـ چې د هغه مرګونو او فدائي حملو کښې هیـڅ فـرق نشتـه ـ او د صـحـابـه کـرامو واقعې چې أحادیثو کښې ذکر شوي ـ د هلاکت ځائې ته تللي او وژلي شوي دي ـ

۱) ـ امـام مسـلـم پـه صـحیـح مسـلـم کښـې لـه ابوبکر بن ابي موسٰی اشـعـريؓ څـخـه روایـت کـړي فـرمـائـي ـ ما د خپـل پلار أبو موسی څخه واوریـدل ـ چـې د هـغــه د جـګـړې پــه مهـال وو ـ وه ئې فرمائیل ـ چې رسـول الله ﷺ فـرمـائیلي دي : ( ان ابواب الجنة تحت ظلال السیوف ) د جنت دروازې د تورو د سیورو لاندې دي ـ

نـاڅـاپـه یـو کـس پـاسیـدو چې ګرد آلوده وو ـ وه ئې وئیـل ـ أبو موسٰی دا حدیث دې له رسول الله ﷺ څخه اوریدلے دے؟ هغه وه وئیـل هـو ـ نـو سـرے خپـلـو مـلـګـرو خوا تـه لاړو سلام ئې پرې واچولو ـ او د تـورې تیـکـې ئې مات کړ ـ بیا توره په لاس دښمن خوا ته لاړو ـ تر هغه

ئې دښمنان وهل تر څو شهيد شو ـ(۳۲)

۲) ـ هدغه شان صحيح مسلم کښې د أنس بن مالک حديث دی فرمائي ـ چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري چې کله د بدر ميدان ته له مشرکانو څخه مخکې ورسيدل ـ بيا مشرکان راغلل ـ رسول الله ﷺ وفرمائيل ـ چې هيڅوک دې مخکې ته نزې تر څو زه يم تللې ـ کله چې مشرکان رانزدې شول ـ رسول الله ﷺ وفرمائيل ـ وس راپاڅئ هغه جنت ته چې پلنوالے ئې له آسمانونو او زمکو په أندازه دے ـ نو عمير بن حمام الأنصاريؓ وفرمائيل ـ يا رسول الله ﷺ داسې جنت چې پلنوالے ئې د آسمانونو او زمکو په أندازه دے ؟ هغوی ﷺ وه وئيل : آو ـ عميرؓ وه وئيل ـ واه ، واه ـ رسول الله ﷺ ورته وه وئيل ولې دې واه واه وه وئيل ؟ هغه وه وئيل چې يا رسول الله ﷺ په دې نيت مې وه وئيل چې زه هم جنتي شم ـ رسول الله ﷺ وفرمائيل ـ ته جنتي ئې ـ نو څه کجورې ئې له خپل طرف له پګړې څخه راوه ويستلې ـ چې خوړلې ئې ـ بيا څه په زړه کښې وروه ګرځيدل ـ او وه ئې وئيل چې زه که دومره ژوندی پاتې شم چې دا کجورې خلاصې کړم ـ دا خو ډيره أوګده زندګي ده ـ نو کجورې ئې وغورځولې او بيا ئې جنګ شروع کړو ـ تر څو شهيد شو ـ(۳۳)

---

(۳۲) ـ صحيح مسلم حديث رقم ، ۱۹۰۲

(۳۳) ـ صحيح مسلم حديث رقم ، ۱۹۰۱

۳) ـ واقعه د أنس بن النضرؓ امام بخاری باب ایښے دے ـ فرمائی : " باب قول الله عزوجل : من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه و منهم من ينتظر و ما بدلوا تبديلا "(۳۴)

ترجمه : له مؤمنانو څخه داسی نران دی ـ چی د الله تعالی سره ئی د شهادت وعده په رښتیا کړی وه ـ ځنو د شهادت نذر (منښته) پوره کړه ـ او ځه لا په انتظار کښی دی ـ او دوی وعده نکړه په بدلولو ـ

بیا ئی د أنسؓ روایت نقل کړے فرمائی : چی زما ترۀ أنس بن نضرؓ د بدر له غزا څخه پاتی شوے وو ـ نو رسول الله ﷺ ته ئی وه فرمائیل : اے د الله رسوله زه د مشرکانو سره له أولی غزا څخه چی تا کړیده پاتی شوی یم ـ که الله زه مشرکانو سره مخامخ کړم په جنګ کښی ـ نو زه به وښایم ـ چی الله ته څومره قربانی ورکوم ـ کله چی د أحد د غزا ورځ شوه ـ او مسلمانان د میدان څخه طرفته شول ـ أنس وفرمائیل : یا الله زه تاته عذر کوم ـ له هغه چی زما ملګری ئی کوی ـ او بی زاره یم له هغه څه چی مشرکان ئی کوی ـ بیا مخکی شو ـ سعد بن معاذ ورته په مخ ورغے ـ ورته وه ئی وئیل ـ سعد بن معاذ زه د جنت بوئی د أحد له غره څخه مومم ـ سعدؓ فرمائی : یا رسول الله ﷺ ما هغه چی هغه کول ترینه عاجز وم ـ نه مو شول کولائی ـ أنسؓ فرمائی:

---

(٣٤) ـ سورة الأحزاب، الآية : ٢٣

چې مونږ د خپل تره په بدن باندې أتيا زخمونه وليدل ـ يا د توری او يا د نيزې او يا د غشي ګزارونه وو ـ هغه شهيد شوے وو ـ او مشرکانو پرې مثله يعنې أندامونه ئې هم ترينه پرې کړی وو ـ چا پيژندو هم نه فقط يو خور ئې د ګوتو په بندونو وپيژندو ـ أنس بن مالک فرمائي ـ چې مونږ ګمان کوو ـ چې دا آيت: " من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه و منهم من ينتظر و ما بدلوا تبديلا " د أنس بن نضرؓ په شان کښې نازل شويدے دے ـ

ابن حجرؒ فرمائي: د أنس بن نضرؓ په واقعه کښې څو فوائد دی: هغه دا چې د ځان قربانول په جهاد کښې جائز دی ـ او وعده پوره کول دی ـ اګر که په نفس سخته هم وی ـ تردی چې نفس هلاک شی ـ او په جهاد کښې شهادت طلب کول ـ ځان هلاکت ته غورځول ندی ـ او پکې د أنس بن نضرؓ واضح بهتر والے ذکر دے ـ چې صحيح مؤمن ډيره يره ئې د الله څخه درلوده او مظبوط يقين ئې وو ـ (۳۵)

۴) ـ په بخاری او مسلم کښې د جابرؓ حديث دے فرمائي: يو کس رسول اللهﷺ ته وفرمائيل: يا رسول اللهﷺ زه که وه وژلے شم چرته به يم؟ رسول اللهﷺ وه وئيل په جنت کښې ـ نو په لاس کښې کجوری وی ـ هغه ئې وغورځولې بيا ئې جنګ کوو تر څو شهيد شو ـ (۳۶)

---

(۳۵) ـ فتح الباری ج ۲۶/۶: ۲۹ ،شرح حديث رقم: ۲۸۰۵

(۳۶) ـ رواه البخاری فی کتاب المغازی باب غزوة أحد حديث رقم: ٤٠٤٦

همدا رنگه أنس فرمائی : یو سړی وه وئیل یا رسول اللهﷺ که زه د مشرکانو په لیکو کښی ننو ځم ـ او جنګ ورسره کوم ـ بیا وه وژلی شم آیا جنت ته به ځم ؟ پیغمبرﷺ وفرمائیل : هو کی ، سړی د مشرکانو لیکو کښی وه ننوتلو او جنګ ئی کولو تر څو شهید شو ـ(۳۷)

أو ابن اسحاق په کتاب المغازی کښی د عاصم بن عمر بن قتاده څخه نقل کړی ـ فرمائی : کله چی د بدر په ورځ جنګ شروع شو ـ عوف بن حارث وه وئیل : یا رسول الله ! الله تعالی خپل بنده ته کوم وخت خاندی او په کوم عمل خاندی ؟ رسول اللهﷺ وه فرمائیل : کله ئی چی وه وینی چی له ځغری پرته جنګیږی ـ نو هغه خپله ځغره وه ویستله او جنګ ئی شروع کړه تر دی چی شهید شو ـ(۳۸)

۵) ـ أنسؓ د یمامی د ورځی قیصه کوی فرمائی : زه ثابت بن قیس ته راغلم ـ هغه بیږی وهلی وی ـ او خوشبو ئی لګوله ـ أنس وائی ما ورته وه وئیل ته ولی نه راځی ؟ هغه وه وئیل : دادے وس درځم چی خوشبو ئی ولګوله ـ راغو او کیناستو ـ د خبرو په منځ کښی د دی ذکر هم وشو ـ چی بعضی خلک د جنګ څخه تللی ـ او میدان ئی خوشے کړے دے ـ نو ثابت وه وئیل چی له مخی څخه می لری شی ـ چی

---

(۳۷) ـ رواه الحاکم

(۳۸) ـ الاصابه فی تمییز الصحابه لابن حجر رقم : ۶۰۹۲

مونږ له دښمن سره وه جنګیږو ۔ مونږ خو د رسول اللهﷺ سره په غزاګانو کښې داسې نه کول ۔ تاسو خپل ملګري ډیر بد أموخته کړل ۔ یعنې د جنګ څخه په تیښته ۔ فرمائي : چې هغه جنګ کووتر څو شهید شو ۔(۳۹)

٦) ۔ ابن مسعودؓ فرمائي : چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي ۔ الله تعالی تعجب کوي ۔ هغه کس ته چې د الله په لار کښې جهاد کوي ۔ بیا ئې ملګري د شکست سره مخ شي ۔ او دا پوره شي چې ملګري لاړل ۔ خو دا بیرته راوګرځي ۔ هغه څه خوښ کړي ۔ چې له ما سره دي ۔ یعنې جنت او زما عذاب څخه وه یریږي ۔ تردې چې وینې ئې توی شي ۔(۴۰)

ابن حجر په (الاصابه) کښې په صحیح سند سره له أبو اسحاق څخه نقل کوي فرمائي : مسلمانان په مشرکانو پسې د یمامې په ورځ ورتلل تر څو ئې ارباستل چې هغه باغ ته پناه یوسي ۔ چې د الله تعالی دښمن (مسیلمة الکذاب) پکې وه ۔ کله چې ننوتل براء بن مالک وه وئیل ۔ چې ما باغ ته ورو وه غورځوئ ۔ هغه ئې چې ورچت کړو ۔ د دیوال څخه ئې باغ ته ودانګل ۔ او جنګ ئې کوو ۔ تر څو ئې مسمانانو ته د باغ دروازه کولاوه کړه ۔ نو الله تعالی مسلمانانو ته فتح ورکړه ۔ او مسیلمة الکذاب وه وژل شو ۔

---

(۳۹) ۔ رواه البخاري في كتاب الجهاد رقم: ۲۸٤٥

(٤٠) ۔ رواه أبو داود عن ابن مسعود و أحمد و ابن حبان و الحاكم بسند حسن

او حافظ ابن حجر فرمائي : أنس وائي رسول الله ﷺ فرمائي : ډیر ځلي به یو گرد آلوده سړے چي سر او کپړي ئي گډي وډي وي ۔ هیڅوک به ورته پام نکوي ۔ خو الله ته به دومره محترم وي ۔ که په الله قسم وکړي ۔ الله تعالی به خامخا قسم په ځائي کوي ۔ یو د هغوی براء بن مالک دے ۔ نو کله چي د فارس سره پریکنده جگړه وه ۔ مسلمانان له میدان څخه وه وتل ۔ په شاه شول ۔ نو براء بن مالک ته ئي وه وئیل ۔ چي ته په الله قسم وکړه ۔ چي فارس به فتح کوو ۔ هغه وه وئیل زه په الله قسم کوم ۔ چي مونږ ته به فارسیانو أوگي رابښي ۔ او ما به د خپل پیغمبر ﷺ سره یو ځائي کوي ۔ یعني شهید کوي ۔ نو بیرته چي دوی حمله وکړه ۔ نو فارسیانو شکست وکړه ۔ او براء بن مالک هم شهید شو ۔(۴۱)

مبارک بن عوف فرمائي : زه د عمرؓ سره ناست وم ۔ ورته وه مي وئیل چي : زما یو گاونډي وو ۔ ځان ئي د کفارو منځ ته په جنگ کښي واچوو ۔ تر څو وه وژلے شو ۔ نو څه خلکو وه وئیل ۔ چي ځان ئي پخپله هلاکت ته پیش کړو ۔ عمرؓ وه وئیل ۔ دروغ وائي خلک ، بلکي هغه آخرت په دنیا غوره کړو ۔(۴۲)

---

(٤١) ـ الاصابه فی تمییز الصحابه لابن حجر رقم : ٦٠٩٢

(٤٢) ـ فتح الباری کتاب التفسیر شرح حدیث رقم : ٤٥١٦

۷) ـ أسلم بن عمران وائي چې : مونږ په قسطنطينه کښې وو. چې د روميانو يوه لويه ډله راوه وتله ـ نو يو ځوان مسلمان پرې يوازې حمله وکړه ـ تردې چې د روميانو صف کښې ننوته ـ او بيرته راوګرځيده ـ چې مخامخ راروان وو ـ مسلمانانو چغې کړې ـ چې (سبحان الله) ځان ئې پخپله د هلاکت خولې ته وغورځوه ـ

أبوايوب انصاريؓ ورته وفرمائيل : اے خلکو تاسو الله تعالى د آيت دا تفسير غلط کوئ ـ ځکه دا آيت زمونږ په شان کښې نازل شويدے ـ کله چې الله تعالى دين مظبوت کړو. او امداديان ئې زيات شول ـ نو مونږ انصارو خپلو منځو کښې وه وئيل ـ زمونږ مالونه ډير مصرف شول ـ که مونږه ئې برابر کړو ـ او څه چې مصرف شو ـ هغه بيرته راجوړ کړو ! نو الله تعالى دا آيت راوليږه ـ نو د هلاکت څخه زمونږ د مالونو برابرول دی ـ چې مونږ ئې اراده کړې وه ـ(۴۳)

أبو اسحاق فرمائي ما براء ته وه وئيل : يو سړی په يوازې ځان په مشرکانو حمله کوی ـ دا ځان هلاکت ته غورځوی ؟ هغه وه وئيل نه ، الله تعالى محمد ﷺ ته داسې فرمائيلي دی: "فقاتل في سبيل الله لا تكلف الا نفسك "(۴۴)

---

(٤٣) ـ رواه مسلم و النسائي و أبوداود و الترمذي و ابن حبان و الحاكم

(٤٤) ـ سورة النساء الآية: ٨٤

ترجمه: د الله لاره کښې جنګ وکړه. ته ذمه دار نه ئې مګر د خپل ځان، او هغه آیت: "و لا تلقوا بأیدیکم الی التهلکة" د نفعې او مالونو په باره کښې دے. (۴۵)

او بیهقی په خپل "سنن" کښې نقل کړی. چې عکرمهؓ د یرموک په غزا کښې پیدل روان شو. خالدؓ ورته وه وئیل. داسې مکوه، ځکه ستا وژل به په مسلمانانو سخت مقام شي. هغه وه وئیل. پرې مګده خالده ځکه ستا د پیغمبرﷺ سره ډیره ملګرتیا شویده. او زه او پلار مې (أبوجهل) د پیغمبرﷺ سخت دښمنان وو. نو هغه دښمن ته لاړو. تر څو شهید شو.

<u>وس د علماؤ أقوال چې د یو کس حمله په ډیرو دښمنو صحیح ده اګر که مرګ ئې یقیني وی</u>

محمد بن الحسن الشیباني فرمائي: پروا نشته که یو کس ځانله حمله وکړه په دښمن اګر که ګمان کیږي چې وه وژلی شي. کله چې سړے پوهیږي. چې دا دښمن وژلی زخمي کولائي او ماتولی شي......

بیا فرمائي: که دا پوهیږي. چې دښمن ته ضرر نه شي ورکولائي. بیا حمله نده جائز، امام سرخسي پدې تعلیق کړی وائي: شرط د حمل لپاره دا دے. چې دښمن کښې به درز پیدا کولائي

---

(٤٥) ـ أخرجه أحمد في مسنده ـ و فتح الباري كتاب التفسير شرح حديث رقم: ٤٥١٦

شي ـ (٤٦)

او جصاص ترې نقل کړي ـ وائي ـ که يو سړی په زر (١٠٠٠) کسانو حمله وکړه پروا نشته ـ کله چې د خلاصی او يا د دښمن د ماتولو طمع لري ـ او که نه لري بيا ښه کار ندی ـ ځکه بيا دا ځان پداسی ځائی کښې بيال دی ـ چی څه فائده په کښی نشته د مسلمانانو ـ او که د خلاصی او يا د دښمن تيپی کيدو طمع ئی نوه ـ خو مسلمانان د ده پدی عمل زړه ورکيدل ـ بيا جائز ده ـ ځکه چی مسلمانان به هم د دهٔ په شان جهاد شروع کړي ـ لکه څنګه چی دا جائز دی ـ چی د ځان د خلاصی طمع نه لري ـ خو دښمن تيپی کولائی شي ـ حمله دی وکړي ـ نو همدغسی دا طمعه چی د ده د حملی د وجی به د ده ملګري په دښمن درز پيدا کړي ـ دلته حمله جائز وي ـ

او مکروه په هغه وخت کښی ده ـ چی فائده ئی نه وي ـ له يو اړخ څخه هم ـ نه د خلاصی نه د دښمن وژلو نه د دښمن د يرولو ـ ځکه دښمن يرول هم لويه فائده ده ـ جصاص وائي ـ چی دا محمد چی کومه خبره کړي ـ دا بالکل صحيح خبره ده ـ او زياتوي ـ چی کله د ده د حملی له وجی دين ته څه مصلحت رسيږي ـ نو دا بيا ډيره د عزت او شرافت مرتبه ده ـ له دی وجی نه الله تعالی د صحابه کرامؓ صفت

---

(٤٦) ـ شرح السير الكبير ، ج ١/١٦٣، ١٦٤

کښې فرمائی :

" ان الله اشتری من المؤمنین أنفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة یقاتلون فی سبیل الله فیقتلون و یقتلون "(۴۷)

ترجمه : الله د مؤمنانو څخه نفسونه او مالونه أخستی دی ـ په بدله د جنت کښې دوی جنګ کوی ـ د الله لاره کښې هم به نور وژنی او هم به په خپله شهیدان کیږی ـ

بیا فرمائی : " و لا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله أمواتا بل أحیاء عند ربهم یرزقون "(۴۸)

ترجمه : او ګمان مه کوی په هغه کسانو چی د الله په لار کښې وژلی شوی دی ـ د عامو مړو بلکې هغوی د الله تعالی په وړاندی ژوندی دی ورته رزق ورکوی ـ

او فرمائی : " و من الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله "(۴۹)

ترجمه : ځنی د خلکو څخه هغه څوک دی ـ چی خرڅوی خپل ځانونه د الله د خوښی په خاطر ـ(۵۰)

شیخ الاسلام ابن تیمیة فرمائی : چی امام مسلم په صحیح کښې د أصحاب الأخدود قیصه ذکر کړیده : او پکی داسی راغلی دی ـ

---

(٤٧) ـ سورة التوبة ، الآية : ١١١

(٤٨) ـ سورة آل عمران ، الآية : ١٦٩

(٤٩) ـ سورة البقرة ـ الآية : ٢٠٧ ـ (٥٠) ـ أحكام القرآن لأبي بكر الجصاص ، ج ٢/٢٦٤ـ٢٦٢ ، طبعة دار الفكر

چې هلک امر وکړو بادشاه ته چې مړ ئې کړي ـ دې لپاره چې دين خلکو ته څکاره شي ـ لدې کبله څلورو امامانو رواء کړې چې سړے د کفارو په ليکو کښې داخل شي ـ اگر که غالب گمان ئې داوي چې مړ به شي ـ کله چې د مسلمانانو څه فائده پکې وي ـ کله چې انسان داسې کار کوي ـ چې دا ئې يقين وي ـ چې زه وژلے کيږم د جهاد د مصلحت لپاره ـ سره له دې چې د ځان وژل له بل چا له وژلو څخه سخت دي ـ نو که بل کس په کښې مړ شو ـ داسې کس چې د دين کار د هغه د وژلو څخه بغير نه ترسره کيږي ـ او دغه ضرر چې د دين او دنيا دښمن ته رسوي نه ترسره کيږي ـ مگر د هغه په وژلو نو هغه دې هم مړ شي پکې هيڅ پروا نشته ـ(۵۱)

او مرداوي تري په (الانصاف) کښې نقل کړي ـ شيخ تقي الدين ذکر کړي ـ چې سنت دي چې سړے د کافرو ليکو کښې وه ننوځي ـ کله چې د مسلمانانو پکې فائده وي ـ او که نه وي بيا جائز ندي ـ(۵۲)

ابن قيمؒ د أحد د غزا فائدې ذکر کوي فرمائي : يوه فائده دا ده ـ د دښمن منځ ته ننوتل جائز دي ـ لکه أنس بن نضرؓ او نور صحابهؓ چې

---

(۵۱) ـ مجموعة الفتاوى، ج ۲۸/ ۵٤۰

(۵۲) ـ الانصاف ج ٤/ ۱۲۵

ننوتل ۔(۵۳)

ابن حجرؒ وائي ۔ چې د يو کس حمله په ډيرو دښمنانو که دشجاعت او بهادرۍ او د دښمن د ويرولو لپاره يا د مسلمانانو د زړورتيا لپاره وي ۔ او يا د کوم بل صحيح مقصد لپاره وي ۔ نو د جمهورو په نزد ښه کار دے ۔ او که هسې ځان ضائع کيږي ۔ او مسلمانان پرې کمزوري کيږي ۔ بيا ندې ښهٔ ۔(۵۴)

ابن حجرؒ وائي ۔ چې د أنس بن النضرؓ د کيسې څه فائدې دا دي ۔ چې د ځان قربانول په جهاد کښې جائز دي ۔ او په وعده پوره والې دي ۔ اګر که په نفس سخته وي ۔ تردې چې نفس پکې قربان شي ۔ او د شهادت غوښتل د هغې منعې لاندې نه دي ۔ کوم چې د ځان د هلاکت باره کښې ده ۔ بلکې په دې کښې د أنس بن نضرؓ سخت فضيلت دے ۔ چې د هغه صحيح ايمان او ډيره تقوٰي او يقين ترې ظاهريږي ۔(۵۵)

قرطبيؒ فرمائي چې : پديکې اختلاف دے ۔ چې يو سړے د جنګ منځ ته تلائي او يواځې حمله کولائي شي که نه؟ قاسم بن مخيمره او قاسم بن محمد او عبد الملک فرمائي: هيڅ پروا نشته که سړے ځانته په لوئې لښکر حمله وکړي ۔ کله چې په کښې طاقت وي ۔

---

(۵۳) ـ زاد المعاد ج ۲/ ۲۱۱

(۵٤) ـ فتح الباري کتاب التفسير ، ج ۸/ ۳۳ شرح حديث رقم: ٤٥١٦

(۵۵) ـ فتح الباري ج ٦/ ٤٦ : ۲۹ شرح حديث رقم: ۲۸۰۵

او نیت ئې خاص د الله لپاره وي. او که طاقت پکې نوي ـ دا بیا هسې ځان هلاکول دي ـ او چا داسې وئیلي ـ چې شهادت غواړي او نیت ئې پاک وي ـ حمله دې وکړي ـ ځکه مقصود ئې یو دے ـ لکه الله تعالی فرمائي :"و من الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله "

او ابن خویز منداد وائي ـ کله چې یو سړي په سلو کسانو یا په لوئې لښکر او یا د غلو په یوه ډله یا په خوارجو حمله کوي ـ نو د دې دوه حالتـه دي: کـه یو هیده او یا ئې غالب گمان وو ـ چې دا په چا حمله کوي ـ هغه وژلے شي ـ او یا ئې څه درز په کښې راوستلے شو ـ او یا ئې داسې اثر پکې کولائي شو ـ چې د مسلمانانو پکې فائده وي ـ نو جائز او ښـه کار دے. او وائـي چې مـا اوریـدلي دي ـ چې د مسلمانانو لښکر کـلـه د فـارسیـانـو سره مخامخ شو ـ د مسلمانانو اسونه د فیلانو څخه وتـر هیـدل ـ نـو یو مسلمان ځانله د ختو څخه یو فیل جوړ کړو. بیا اس پـرې أموخته کړو ـ چې بیا ترینه نه یریده ـ چې صباح شو ـ د هغه اس د فیـلانـو څخـه نـه تـر هیـدو ـ نـو په یو فیل ئې حمله وکړه ـ کوم چې مـخـکـې راروان وو ـ چا ورته وه وئیل چې وژني دې مه درومه ، هغه وه وئیل خیر که مړ شم خو چې مسلمانان فتحه وکړي ـ

او هـمـد غسې د یمامې په ورځ یو مسلمان وه وئیل ـ چې مـا پـه مـنـجـنـیـق کښې کینوئ ـ او کفارو ته مې وغورځوئ. نو هغه ئې چې وغورځوو ـ یوازې ئې جنگ کوو ـ تر څو ئې دروازه

مسلمانانو ته کولاو کړه .

قرطبیؒ وائي . چې یو دلیل پدې حدیث کښې دا دے . چې : یو کس رسول اللهﷺ ته وه فرمائیل : که زه د الله په لاره کښې و وژلې شم . داسې حال کښې چې صبر کوم او ثواب ئې ګنړم نو څنګه به وی ؟ پیغمبرﷺ وه فرمائیل . ستا لپاره به جنت وی . نو هغه په دښمنانو کښې ننوتو . تر څو شهید شو.(۵٦)

همدغسې په مسلم کښې د أنس بن مالک حدیث دے فرمائي چې : رسول اللهﷺ د أحد په ورځ ځانله پاتې شو. په اوو (۷) أنصارو صحابو کښې او دوه قریشي صحابو کښې . کله چې کافر پرې راجمع شول . پیغمبرﷺ وفرمائیل . څوک به دا کافر زمونږ څخه په شا کړي. او زه ورته د جنت ذمه داري کوم . د انصارو یو کس ورمخکې شو. جنګ ئې کوو . تردې چې شهید شو . همدغسې ورتلل تر څو اوه (۷) ټول شهیدان شول . بیا پیغمبرﷺ وه فرمائیل . چې ملګرو مو راسره انصاف ونکړو .

قرطبیؒ بیا د محمد بن حسن هغه قول چې تیر شو نقل کړي. بیا فرمائي : د دې دلائلو مخې أمر بالمعروف او نهي عن المنکر چې کله هم دین ته څه فائده رسولائې شوه . او سړی په کښې خپل سر

---

(٥٦) ـ رواه مسلم كتاب الجهاد باب غزوة أحد

وبائللو نو دا د وچتو درجو خاوند شهید دی ـ الله تعالی فرمائی:

" وأمر بالمعروف وانه عن المنكر و اصبر علی ما أصابك ان ذلك من عزم الأمور "(۵۷)

ترجمه ئی مخکی شوی ده ـ

عکرمه د ابن عباس څخه نقل کوی ـ چی پیغمبر ﷺ فرمائی: بهتر له شهیدانو حمزه بن عبد المطلب او هغه کس دے ـ چی د حق خبره د ظالم بادشاه مخکی وکړی ـ او هغه ئی وه وژنی ـ(۵۸)

ابن عابدین په خپله حاشیه کښی چی د صاحب المتن دوینا شرحه ئی کړیده وائی مطلب: کله چی سړے پو هه شی چی وژلی کیږم جائز دی ـ چه جنګ وکړی ـ پدی شرط چی دښمن کښی درز اچولے شی ـ او که نه شی نو ندی جائز ـ په خلاف د امر بالمعروف: که سړے پو هه شو چی جنګ کوم وژلے کیږم او که نه کوم بندی کیږم ـ نو جنګ پری ندی لازم ـ مقصد دا دی که جنګ کوی جائز دی ـ اګر که وژلی کیږی ـ

ولی په شرح السیر کښی ذکر کړی ـ چی باک نشته که یو کس په دښمن حمله وکړی ـ اګر که وه وژلی شی ـ که چی په دښمن کښی زخم وژل او یا هم یرول کولائی شی ـ ځکه ډیرو صحابؤو داسی کړی ـ

---

(۵۷) ـ سورة لقمان ، الآیه :۱۷

(۵۸) ـ الجامع الأحکام القرآن للقرطبی ج ۲/ ٤ ٢٦

د پیغمبرﷺ په مخ کښې د أحد په ورځ او پیغمبرﷺ ئې صفت وکړو پدغه کار ـ او کله چې هیڅ هم نشي کولائې بیا ندی جائز ـ ځکه پدی حمله هیڅ فائده نه حاصلیږی ـ د دین د مظبوتی لپاره ـ په خلاف د فاسقانو مسلمانانو د بدا ځخه منع کول ـ دا په هر صورت جائز دی ـ(۵۹)

<u>پدیکی فرق نشته چی سړے ځان بخپله مړ کړی او که به بل جائی وه وژنی</u>

مخکی دا مسئله ذکر شوه ـ چی پدیکی فرق نشته ـ چی سړے د خپل مرګ پخپله سبب شی ـ لکه د هغه هلک په قیصه کښې ـ چی بادشاه ته وه وئیل ما نشي وژلے تر څو هغه څه ونکړی چی زه ئې درته وایم ـ بیا ئې بادشاه ته وه وئیل ـ چی خلک ټول په یو میدان کښې راجمع کړه ـ او ما په یو لرګی باندی ځوړند کړه ـ بیا زما له غشو یو غشے راواخله ـ ما پری وه وله ـ او (بسم الله رب الغلام) وه وایه بیا به زه مړ شم ـ

دویم دا چی ځان په خپله وه وژنی لکه أصحاب الأخدود چی ځانونه ئې پخپله أور ته غور ځول ـ

دریم دا چی ځان د بل چا په لاس وه وژنی ـ لکه سړے چی په ډیر دښمن حمله وکړی ـ

---

(۵۹) ـ رد المحتار على الدر المختار المعروف بحاشية : ابن عابدين ج ۲/ ۲۲۲

دا ټول ښه کار دے ـ ثواب ورته میلاویږی ـ کله چې د دین د مصلحت او د وچتوالی لپاره ئی کوی ـ او لدی څخه معلومیږی ـ چې پدیکې کوم فرق نشته ـ چې سړے ځان پخپله وه وژنی ـ یا د کافرو په صف کښې داخل شی ـ هغوی ئی وه وژنی ـ او یا بل چاته امر وکړی ـ چې ما وه وژنه کله چې د دین د غلبې لپاره وی ـ

او لدی څخه د دی خبری پخلی هم کیږی ـ چې سړے ځان پخپله وژنی او که بل چاته د ځان په وژلو امر کوی ـ یو شان حرام دی ـ کله سړے چاته وه وائی ـ چې ماته زهر راکړه ـ یا ئی ځان ته په پچکاری (انجکشن) کښې ولګوی ـ او یا د بل چا په لاس ځان وه وژنی ـ او همدغسې که د ریل ګاړی او د موټر لاندی ځان واچوی ـ ټول حرام دی ـ ځکه د الله د رحمت سره نا امیده شوی وی په ټولو حالاتو کښې ـ

او د دی خبری پخلی د ابن حجر په هغه وینا کښې کیږی ـ کومه چې د دی آیت په باره کښې کړی ـ او راتلونکې ده ـ و لا تقتلوا أنفسكم ان الله كان بكم رحيما ـ

ترجمه : او ځانونه مه وژنئ الله په تاسو مهربانه دے ـ هلته به مونږ واضحه کړو ـ چې چا مرګ په بند غوره کړی ـ او مرګ ئی د کفر په کلمه وئیلو غوره بللی وی ـ او د شیخ محمد بن ابراهیم وینا به هم ذکر کړو ـ چې وائی بندی ځان وژلے شی ـ کله چې یریږی د مسلمانانو رازونه به افشاء او خوارهٔ کړی دښمنانو ته ـ

<u>څلورم: چا چې د دين د مصلحت په خاطر ځان وه واژه دا هغه منعې څخه بهر دي چې د ځان وژلو باره کښې ده</u>

ابن حجرؒ نقل کړيدی ـ په وضاحت د دی باب کښی چې (باب من اختار الضرب و القتل و الهوان علی الكفر) باب دے د هغه چا کښی چې وهل، وژل او سپکاوی د ځان په کفر باند غوره بلی ـ

مهلب وائي چې بعضو خلکو مرګ خوښول بد ګنړلی د کفر په وئيلو خير د ی د کفر کلمه وه وايه خو ځان مه وژنه او دليل ئی دا نيولے دے ـ "ولا تقتلوا أنفسكم" ځانونه مه وژنی ـ خو مهلب وائی ـ چې پديکی دغه دليل نشته ـ ځکه روستو له دغه آيت څخه بيا الله تعالی فرمائی: "و من يفعل ذالك عدوانا و ظلما "

ترجمه: چا چې ځان وه واژه په تياری او زياتی سره ـ

نو د عدوان او ظلم له قيد څخه دا فائده معلوميږی ـ چې د الله د طاعت لپاره ځان وژل جائز دی ـ ځکه هغه خو د عدوان او ظلم له وجې ځان وژل ندی ـ او سره لدی چې پدی اجماع ده ـ چې جهاد کښی د مرګ ځايونو ته داخليدل جائز دی ـ(٦٠)

---

(٦٠) ـ فتح الباری ج ١٢/ ٣٣٠

<u>پنځم: چا چې د الله لاره کښې ځان مرګ ته پيش کړو دا د ځان هلاکونکې ندې</u>

مـخکـې بيان شول ـ چې يو کس په ډيرو دښمنانو حمله کولائي شي ـ او ځـان د ديـنې مصلحت لپاره وژل جائز دي ـ وس مونږ دا خبره واضحه کـوو ـ چـې د الله پـه لار کښـې ځان مرګ ته پيش کول ـ دا په هغه منع کښې ندي داخل ـ چې ځان پخپله سرې هلاکت ته غورځوي ـ

ابـن حـجرؒ وائـي چـې ابـن جرير او ابن منظر په صحيح سند سـره لـه مـالک بن عوف څخه نقل کړي ـ هغه فرمائي : زه دعمرؓ په خـوا کښې حاضـر شوم ـ وه م وئيـل چې زما يو ګاونډي ځان په جنګ کښـې د مـرګ ځـائي ته تيـل وهه ـ او مړ شو ـ نو څه خلکو وه وئيـل چـې ځـان ئـې پـخپـلـه د هـلاکـت خوله ته تيـل وهه ـ عمرؓ وه وئيـل : دروغ وائي هغه آخرت په دنيا غوره کړو ـ(٦١)

او هـمـد غسـې مسـلم نسائي أبودود ترمذي ابن حبان حاکم : د أسلم بن عمران څخه نقل کوي ـ هغه وائي مونږ په قسطنطينيه کښې وو ـ د روميـانـو يـو لـوئـې لښـکـر راوه وتلو ـ نو يو مسلمان د هغوي په لښـکـر حـمـلـه وکـړه ـ تـردې چې منځ ته وه ننوته ـ بيا بيرته رامخامخ شو ـ چې راروان وو ـ نو خلکو چغې کړي ـ (سبحان الله) ځان ئې پخپله

---

(٦١) ـ فتح الباري کتاب التفسير شرح حديث رقم: ٤٥١٦

هلاکت ته وه غورځوه ـ ابوایوبؓ ورته وه وئیل : اے خلکو تاسو د قرآن د آیت تفسیر غلط کوئ ـ دا زمونږ د انصارو په شان کښې نازل شوے ـ کله چې الله تعالی دین مظبوط کړو ـ او ملګرې ئې زیات شول ـ مونږه مشوره وکړه ـ چې وس به خپل ضائع او مصرف شوی مالونه بیرته برابر وګټو ـ الله تعالی دغه آیت نازل کړو ـ نو د هلاکت څخه مراد زمونږ د مالونو برابرول او ګټل دی ـ کوم چې مونږ غوښتل وه ئې کړو ـ(۶۲)

او ابن حجرؒ په کیسه د أنس بن نضر کښې چې مخکې مو ذکر کړو ـ دا فائدې بیان کړیدی :

ځان جهاد کښې قربانول ، وعده پوره کول اګر که دومره سخته وی چې نفس پکې له منځه ځی ، جهاد کښې د شهادت غوښتل د ځان هلاکت ندی ، د أنس بن نضرؓ بهتر ذکر دے پکې چې د هغه صحیح ایمان ډیره یره له الله تعالی څخه او تقوی پرهیزګاری وه او مظبوت یقین ـ (۶۳)

<u>شپږم : صبر او جنګ بهتر دی له هغه چاليارہ چې باور ئې شي چې دښمن مې نیسي جنګ دی وکړی او دښمن ته دی ځان نه سپاری</u>

أبو هریرهؓ فرمائي چې رسول الله ﷺ یو وفد ولیږه ـ په شمار د لسو تنو کښې د جاسوسي لپاره ـ او امیر ئې ورله عاصم بن ثابت

---

(۶۲) ـ رواه مسلم و النسائي و الترمذي و أبوداود و ابن حبان و الحاكم

(۶۳) ـ فتح الباري ، ج ۲۶/۶ : ۲۹ ، شرح حديث رقم ۲۸۰۵

الأنصاري وټاکه ـ دوی چي کله (هداة) ته ورسيدل ـ چي د عسفان له مکې منځ کښې دی ـ نو د بني لحيان قبيله ترې خبر شوه ـ او پدی پسې د دوه سوه کسانو چي ټول ويشتونکي وه ـ يو لښکر راوښکه ـ دغه کافرو د مسلمانانو منډونه پسې أخيستل تر څو راورسيدل ـ

کله چي عاصم او ملګرو ئې وليدل نو يوې ډيره کښې ئې ترې پناه واخيسته ـ او کافر ترينه چاپير شول ـ ورته وه ئې ويل ـ چي راکوز شئ ځانونه مونږ ته وسپارئ ـ مونږ درسره وعده کوو ـ چي نه به مو وژنو ـ عاصم بن ثابت چي د ډلې مشر وو ـ وه ئې ويل ـ چي زه خو قسم په الله کـه د کـافر پـه لاس نن ځان تسليم کړم ـ او وه ئې فرمائيل ـ يا الله ستا رسول ز مونږ د حاله خبر کړه ـ بيا ئې غشي پرې شروع کړل ـ تردې چي د عاصم بن ثابتؓ په شمول اوه (۷) کسان شهيدان شول ـ او پاتې درې د وعدې سره راکوز شول ـ چي يو پکې خبيب الأنصاريؓ وو ـ بل ابن الدثنه وه ـ يو بل کس وو کله چي ئې ونيول ـ د ليندو رسۍ ئې خلاص کړل ـ او د دوی لاسونه ئې پرې وتړل ـ دريم کس وه ويل چي دا اوله دهوکه ده ـ چي راسره مو وکړه ـ په الله قسم که درسره لاړ شم ـ زه هم د خپلو شهيدانو شوو ملګرو سره پاتې کيږم ـ خو هغوی کش کړو ـ او وه ئې زوروه چي ورسره لاړ شي ـ خو هغه انکار وکړو ـ هغه ئې هم شهيد کړو ـ او خبيبؓ او ابن دثنةؓ ئې بوتله ـ او په مکه کښې ئې خرڅ کړل ـ پس د بدر له غزا څخه ـ بيا ئې

خبیبؓ تفصیلي ذکر کړې دے۔

آخر کښې وائي: الله تعالی د عاصم بن ثابتؓ دعا په دغه ورځ چې شهید کېدو۔ قبوله کړه۔ او خپل پیغمبرﷺ ئې د هغوی د حاله خبر کړو۔ چې شهیدان او اسیران شول۔(۶۴)

شوکانيؒ د دې حدیث په وضاحت کښې فرمائي: لدې حدیث څخه دلیل داسې نیولې کېږي۔ چې پیغمبرﷺ د دغه درې کسانو چې أساره ئې قبوله کړه رد ونکړو۔ او نه ئې د هغه أوه(۷) کسانو چې بند ئې ونه منو او ځانونه ئې شهیدان کړل۔ په کار رد وکړو۔ که په دې دواړو کارونو کښې یو هم ناروا وو۔ نو پیغمبرﷺ به رد کړے وو۔ نو ښکاره شوه چې کله سړے د دښمن د مقابلې څخه عاجز وی۔ ځان سپارلے هم شي او تر مرګه جنګېدائي هم شي۔(۶۵)

خطابيؒ وائي: د دې حدیث په توضیح کښې: لدې څخه معلومېږي۔ چې مسلمانان به له دښمن سره مقابله کوی۔ او مظبوت به اوسي۔ کله چې مجبوره هم شي۔ او ځان به نه سپاری ورته تر څو چې د بند څخه په ځان ساتلو برلاسې وی۔(۶۶)

ابن حجرؒ د دې حدیث شرحه کښې ذکر کړی دی چې: بندی د

---

(٦٤) ـ رواه البخاری کتاب المغازی حدیث رقم: ٤٠٨٦ ورواه أبو داود و ابن سعد

(٦٥) ـ نیل الأوطار، ج ٢٥٢/٧-٢٥٥ ط دار الکتب العلمیة: بیروت

(٦٦) ـ معالم السنن للخطابی، ج ٩/٤، ط دار المعرفة: بیروت

آمان څخه انکار کولائی شي ـ او کولائی شي چې ځان ته څوک پرینـزدي ـ اګر که پدې وه وژلی شي ـ چې هغه د کافر حکم په ځان نه عملی کول غواړي ـ خو دا هغلته چې کله سرې په سختی راغ وی ـ او که په (رخصت) یعنی اجازت باندی عمل کوی ـ نو جائز ده چې ځان وسپاری ـ حسن بصريّ وائي : پدی څه پروا نشته او سفیان ثوری وائي بنه کار ندی ـ(٦٧)

ابن قدامةَ فرمائي : چې کله څوک د بند څخه یریږی ـ نو بهتره دا ده ـ چې جنګ وکړي ـ تر څو شهید شي ـ او ځان دي د کافر په بند کښې نه ګیروی ـ ځکه وچته درجه ورته هم حاصلیږی ـ او د کافرو له واکمنی څخه به هم خلاص شي ـ چې تعذیب او سزا ورکوی ـ د دین څخه ئي اړوی ـ او که ځان ورسپاری هم جائز دی ـ د أبو هریرهٌ د حدیث له وجې کوم کښې ئي چې د عاصمٌ قیصه ذکر کړیده ـ نو عاصم په أولی او بهتر کار عمل وکړو ـ او خبیبٌ او زیدٌ رخصت غوره کړو ـ او دواړه د ستاینې وړ دي ـ یو هم ملامت ندی ـ(٦٨)

مرداوی د ابن قدامةَ د وینا شرحه کوی ـ ـ په (مقنع) کښې وائي ـ که کافر زیات وو ـ نو وه دی تښتي ـ امام أحمدٌ وائي ـ زما هم بندی ندی خوښ که جنګ وکړي بهتره ده ـ بند ډیر سخت دی ـ

---

(٦٧) ـ فتح الباری کتاب المغازی باب غزوة الرجیع و رعل و ذکوان ، ص ٤٤٤

(٦٨) ـ المغنی لابن قدامة کتاب الجهاد ، ج ٤٨٢/٨ ط : مکتبة الریاض الحدیثة

نو مرګ ځکه ښه دے ـ او عمارؓ فرمائی ـ چی چا ځان کافر ته ورکړو ـ ذمه تری لری شوه ـ یعنی ګناه ئی وکړه ـ او أجریؒ وائی ـ چی د أحمدؒ یو قول دا هم دے ـ چی ځان بند ته ورکول ګناه ده ـ (٦٩)

نو دا د اسلام د علماؤ نظر وو ـ چی ټول پدی متفق دی ـ چی ځان کافر ته نه سپارل جائز دی ـ اګر که وژنی دی ـ بلکی بعضی علماؤ واجب ګنړلی دی ـ ځکه چی پدی کښی د مسلمان بی عزتی او د کفارو د مسلمان په بدن واکداری ده ـ او دا بل صورت شو ـ د ځان د قربانولو چی د دین د مصلحت لپاره نه بلکی د کافر په ځان د نه غالبه کولو چی بیا دی بی عزتی ونکړی ـ

<u>أووم: په مرګ صبر کول او د کفر کلمه نه وئیل</u>

قرطبیؒ د دی آیت په تفسیر کښی وائی : " من کفر بالله من بعد ایمانه الا من أکره و قلبه مطمئن با لایمان "(٧٠)

ترجمه : چا چی په الله کفر وکړو ـ مګر هغه څوک چی څوک ئی د کفر په وئیلو مجبور کړی ـ او زړه ئی مطمئن وی په ایمان ـ

د ټولو اهل علمو پدی اجماع ده ـ چی څوک په کفر مجبور شی ـ بیا هم په کفر باندی مرګ غوره کړی ـ دا له هغه کس بهتر دے ـ

---

(٦٩) ـ الانصاف فی معرفة الخلاف للمرداوی ، ج ٤/ ١٢٤ ط : السنة المحمدیه

(٧٠) ـ سورة النحل ، الآیة : ١٠٦

چي کلمه کفر مجبورا وه وائي ـ خو پدی کښي اختلاف دے ـ چي پداسي کار ئي مجبور کړی ـ چي حرام وی ـ د مالک ملګری وائي ـ چي کوم سخت کار وی ـ غوره کول پکار دی ـ او وهل او وژل د الله تعالی په نزد له رخصت يعني اجازی څخه بهتر دی ـ لکه څنګه چي حلبيب او سحنون وئيلی دی ـ او ابن سحنون بيا د عراق له علماؤ څخه داسي نقل کړی ـ چي کله څوک تهديد شو په وژلو يا د کوم اندام غوڅولو يا د وهلو چي د مرګ خطره وی تری ـ نو جائز دی چي دغه حرام وکړی ـ که شراب څکل وی که د خنزير غوښه خوړل وی ـ او که وه ئي نه خوړل او مړ ئي کړه ـ نو ګناهګار دی ـ ځکه دا خو (مضطر ) يعني مجبوره وو ـ

خباب بن أرتؓ فرمائي : چي مونږ رسول اللهﷺ ته شکايت وکړو ـ داسي حال کښي چي هغه د کعبي په خواء کښي په ځان څادر أچولے وو ـ او تکيه ئي وهلی وه ـ ورته مو وه وئيل يا رسول اللهﷺ ته زمونږ لپاره د الله څخه امداد نه غواړی ـ او د الله تعالی څخه زمونږ لپاره دعاء نه غواړی ؟ هغه وه وئيل ستاسو څخه مخکی خلک به په زمکه کښي ډوب کړے شو ـ او بيا به ئي آره راوه غوښته ـ او په سر به ئي ورته کيښوده ـ دوه ځايه به ئي کړو ـ او د وسپني په ګمنځو به ئي غوښي له هډوکو څخه رالری کيدی ـ خو له دين څخه به نه اوختل ـ قسم په الله چي دين به خامخا پوره کيږی ـ تردی پوری د صنعاء څخه

به حضر موت پورې يو سپور يوازې ځي. او له هيڅ څخه به نه يريږي. مګر له الله څخه. او له شرمخ چې بزې ئې ماتې نکړي. خو تاسو هر څه په تلوار غواړئ. (۷۱)

نو پيغمبرﷺ د مخکينو امتونو صفت وکړو. او د هغوی صبر ئې بيان کړو. چې د سختۍ وخت کښې ئې څومره صبر کړے دے. داسې ئې ونکړل چې ايمان پټ کړي. او کفر ظاهر کړي. چې له عذاب څخه ځان وژغوري. او همدا دليل دے. د هغه ځا چې وهل وژل او ذلت او جنت په بند او يا په کفر ښکاره کولو غوره بولي.

أبو محمد بن الفرج البغدادي له حسن څخه نقل کړيدي.

چې د مسلمانانو دوه کسان چې د پيغمبرﷺ صحابه وو. د مسيلمة جاسوسانو ونيول. او مسيلمة ته ئې بوتلل. يو کس ته ئې وه وئيل چې ته ګواهي کوې چې زه د الله رسول يم؟ هغه ورته وه وئيل: چې هو کې. هغه ئې پريښودو. بل کس ئې وه وئيل. چې ته ګواهي کوې. چې محمدﷺ د الله رسول دے. هغه وه وئيل. چې هو کې. بيا ئې ورته وه وئيل: او دا ګواهي هم کوې. چې زه د الله رسول يم. هغه ورته وه وئيل: زه داسې خبروزه کوڼ يم. څه نه اورم. نو هغه ئې رامخکې کړو. او سر ئې ترې غوڅ کړو. دا کوم چې ئې پريښې وو. دا

---

(۷۱) ـ أخرجه البخاري كتاب الاكراه باب من اختار الضرب و القتل و الهوان على الكفر

پیغمبر ﷺ ته راغلو ـ او وه ئې وئیل ـ هلاک شوم پیغمبر ﷺ وه فرمائي ولې په څه هلاک شوې ـ هغه ورته کیسه وکړه ـ پیغمبر ﷺ وه فرمائیل چې ستا ملګرې په بهتره عمل کړے دے ـ او تا په اجازه عمل کړے دے۔ خو وس دې حال څنګه دے ؟ هغه ورته وه وئیل : وس ګواهي کوم چې ته د الله رسول ئې ـ پیغمبر ﷺ ورته وه وئیل ـ چې په خپل دین ئې او ګمراه شوے نه ئې ـ (۷۴)

قرطبي د سورت البروج آیاتونو شرحه کوې فرمائي : زمونږ علماء وائي ـ چې الله عزوجل پدې آیاتونو کښې مؤمنان په هغه څه خبر کړه ـ چې پخواني امتونه ورسره مخ وو ـ کله چې د الله په یو بللو هغوی ته څو مره تکلیفونه رسیدلي وو ـ نو تاسو هم د تکلیف سره ځان أشنا کړئ ـ او د هلک قیصه پیغمبر ﷺ ذکر کړه ـ چې د هغه پشان صبر او استقامت په سختو او تکلیفونو کښې او ځان قربانول د دین په خاطر لدې سره ځان أشنا کړي ـ او همدغسې هغه راهب چې ځان ئې د دین په خاطر په آره دوه ټوټې کړو ـ او همدغسې هغه ډیر خلک چې کله ئې ایمان قبول کړو ـ نو أور ته په ځان أچولو ایله ونکړه۔ اګر که ابن عربي دیته منسوخ ویلي دي ـ خو دا منسوخ ندي ـ

---

(۷۴) ـ تفسیر القرطبي ، ج ۱۰ /۱۸۸ ، ط مؤسسة مناهل العرفان بیروت ـ و الحدیث ذکره السیوطي في الدر المنثور ج ۴/ ۱۲۲

بلکې پدې کارونو صبر کول ـ دا د دین په مظبوتیا او د زړه په طاقت کیږي ـ او چا کښې چې دا وي ـ نو هغه لپاره همدغسې کول بهتر دي۔

نو دا بل صورت شو ـ د ځان د قربانولو او کفر باندې خوله نه خوځولو او شریعت هم د دې صورت صفت کړیدے ـ

<u>اتم: د أمر بالمعروف او نهي عن المنکر په سبب مرګ قبلول بهتر دي</u>

جصاصؒ پس لدې چې د محمد بن حسن الشیباني وینا ذکر کړې ده فرمائي: لدې کبله مناسبه ده ـ چې د أمر بالمعروف او نهي عن المنکر حکم دا وي ـ چې کله هم د چا امید وي ـ چې دین ته نفعه رسولې شي ـ او ځان ئې قربان کړو۔ نو دا بهترو درجو واله شهید دے ـ الله تعالی فرمائي: "و أمر بالمعروف وانه عن المنکر و اصبر علی ما أصابك ان ذالك من عزم الامور "(۷۳)

أمر بالمعروف او نهي عن المنکر کوه ـ په تکلیفونو صبر کوه۔ دا هغه کارونه دي ـ چې ټینګ ودریدل پرې ښه کار دے ـ

او عکرمه له ابن عباس او هغه له پیغمبرﷺ څخه نقل کوي فرمائي: بهتر شهید په شهیدانو کښې حمزه بن عبد المطلب دے ـ او هغه کس د ظالم بادشاه په مخکې د حق خبره وکړي ـ نو هغه ئې ووژني ـ(۷۴)

---

(۷۳) ـ سورة لقمان ، الآیة: ۱۷

(۷٤) ـ رواه الحاکم و الضیاء عن جابر و رواه الطبراني في الکبیر عن عليؓ

او همدغه شان أبو سعيد الخدريؓ د رسول اللهﷺ نقل کوی فرمائي : بهتر جهاد د حق کلمه وئيل دی د ظالم بادشاه مخکی ـ

او أبو هريرهؓ فرمائي : ما له رسول اللهﷺ څخه اوريدلی دی ـ چی فرمائيل ئی : په سړی کښی بدتر صفت د بخل دی ـ چی له فقر څخه يريږی ـ او بزدلی ده ـ چی زړه د سړی څخه باسی ـ(۷۵)

او د بزدلی بدی د شجاعت صفت لره ثابتونکی ده ـ چی کله بهادری د دين د څه فائدی رسولو لپاره وی ـ اگر که د مرگ يقين ئی هم وی ـ او الله بنه پو هيږی ـ(۷۶)

قرطبیؒ د دی آيت په تفسير کښی فرمائي : " ان الذين يكفرون بآيات الله و يقتلون النبيين بغير حق و يقتلون الذين يأمرون بالقسط من الناس فبشرهم بعذاب أليم "(۷۷)

ترجمه : هغه کسان چی کفر کوی ـ د الله تعالی په آياتونو او وژنی پيغمبران بی له څه حقه او وژنی هغه کسان چی د انصاف أمر کوی ـ له خلکو څخه نو زيری ورکړه ورته د دردنا ک عذاب ـ

ابن عربی پدی گمان کوی ـ چی څوک د منکر يعنی (بدی) د

---

(۷۵) ـ رواه ابو داود و البخاری فی التاريخ عن أبی هريرة و هو صحيح

(۷۶) ـ أحكام القرآن للجصاص ج ۲۶۲/۲ ط : دار الفكر ـ و تفسير القرطبی ج ۳۶٤/۲، مؤسسة مناهل العرفان

(۷۷) ـ سورة آل عمران ، الآية : ۲۱

ختمولو أميد لري ـ خو د هغې په لري کولو کښې د ده سره خطره وي ـ يا د ده د وهلو خطره وي ـ نو جائز ده چې پدې کار کښې ورننوځي ـ او که اميد ئې نوي چې منکر به ختم شي ـ نو بيا څه فائده ده ـ خو دا وائي چې کله نيت پاک وي ـ نو بيا دې ورغورځيږي ـ که فائده وي که نه وي ـ

قرطبيؒ وائي چې دا خبره له هغه اجماع خلاف وه ـ کومه چې أبوعمر ذکر کړې ده ـ او دا آيت دلالت کوي ـ پدې چې أمر بالمعروف او نهي عن المنکر د مرګ د يرې سره هم جائز دي ـ لکه دې آيت کښې چې وائي : "و أمر بالمعروف وانه عن المنکر و اصبر على ما أصابك ان ذالك من عزم الأمور "پدې آخر کښې اشاره ده تکليفونو ته ـ(۷۸)

ابن عابدين وائي ـ پس لدې چې وئيلې ئې دي ـ چې يو کس په ډيرو دښمنانو حمله کولائې شي ـ اګر که مرګ ويني فرمائي : خو دا حکم بيا د فاسقو مسلمانانو د فسق څخه د منعې په صورت بالعکس دی ـ ځکه البته که دې وژنې هم په هغوی د منعه کولو اقدام کولائې شي ـ اګر که چپ کيدل هم جائز دي ـ او نه چپ کيدل ځکه بنه دي ـ چې مسلمانان ستا په خبرو عقيده لري ـ نو خامخا به د هغوی ـ په باطن کښې ستا خبره أثر کوي ـ خو کافر بيا داسې ندی ـ(۷۹)

---

(۷۸) تفسير القرطبي ، ج ٤/٤٨ ، ط مؤسسة مناهل العرفان ، بيروت

(۷۹) حاشية ابن عابدين ج ۲۲۲/۳

نو دا بل صورت شو چې پداسې شي اقدام کوي ـ چې مرګ ورسره ترلی وي ـ خو د دين څه مصلحت په کښې وي ـ او هغه أمر بالمعروف او نهي عن المنکر دے ـ

<u>د فدائي حملو په شان کښې د شيخ حمود بن عقلاء الشعيبي فتوه</u> ★

---

★ ـ شيخ ابو عبدالله حمود بن عقلاء الشعيبي الخالدي :ـ د زمانې يو ډير لوئې عالم وو ـ چې په ۱۳۳۶ھ کښې زيګيدلے وو ـ او په بُريده ښار چې د جزيرة العرب يو مشهور مقام دے کښې ئې اکثر او ابتدائي ژوند تير کړے وو ـ او د ډيرو لويو لويو عالمانو او بزرګانو ئې د علم تحصيل کړے وو ـ په هغې کښې ـ

فضيلة الشيخ عبد اللطيف بن ابراهيم آل شيخ او فضيلة الشيخ محمد بن ابراهيم آل شيخ او فضيلة الشيخ عبد الله بن محمد بن سليمان او فضيلة الشيخ محمد الامين الشنقيطي وغيره ـ

او کال ۱۳۷۸ھ کښې په کلية الشريعه کښې مدرس اُو ټاکلے شو ـ او تقريبا څلويښت کاله ئې د علم حديث، فقه، اصول فقه، توحيد، نحو، تفسير وغيره علمونو تدريس وکړو ـ او ترقي ئې وکړه ـ تردے پورے چې د يونيورسټۍ (پوهنتون) د تدريس د خدماتو په وجه لوئې استاد يعني پروفيسر جوړ شو ـ

او په حرم مکه مکرمه کښې دے د حج په ورځو کښې د خپل استاد او شيخ محمد بن ابراهيم له طرفه مفتي او مدرس او ټاکلے شو ـ او دغه وظيفه ئې د ۱۳۸۰ھ نه تر ۱۳۸۴ھ يعني پينځه کاله پورے تر سره او رسوله ـ

---

او زمونږ د جليل القدر شيخ حمود ډير تأليفات، مقالې او د لاس ليک کتابونه ئې هم شته. چه د اختصار په وجه د ټولو احاطه ممکن نه ده. او ډيرو علماؤ او استاذانو د ده نه د علم تحصيل کړے دے. چه په هغے کښې دا وس وخت د سعودي عرب غټ مفتي عبد الله بن محمد بن ابراهيم آل الشيخ، فضيلة الشيخ مجاهد علي بن خضير الخضير او شيخ ډاکټر صالح بن فوزان الفوزان (چه د لويو علماؤ په هيئت کښې يو غړے دے) او شيخ عبد العزيز بن عبد الرحمان السعيد (چه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مشر دے) او شيخ سلمان بن فهد العودة. او نور ډير قاضيان او د غټو غټو محکمو مشران شامل دي.

او د ډيرو لويو لويو علماؤ د ډاکټريټ او ماسټر ته د رسيدو کتابونه ئې هم مناقشه کړي دي. او جامعه اسلاميه چه د مدينې منورې يو غټ اسلامي پوهنتون دے. هغوي ورته د لويو لويو علماؤ د استاذۍ درجے ته د رسيدلو د پاره د هغوي کتابونه ورکړل. چه د مناقشے نه پس هغوي د استاذۍ درجے ته اورسي. په دې کښې الشيخ عبد القادر شيبة الحمد او شيخ ابوبکر الجزائري، او د غه رنګے شيخ محمد بن صالح العثيمينؒ هم شامل دے. او د غه رنګے شيخ حمود بن عقلاء د جزيرة العرب بلکې د عالم اسلام يو لوئې عالم او بزرګ وو. او کله به ئې چې فتوې ورکوله. نو په حق وئيلو کښې به ئې د الله تعالى نه علاوه د چا ملامت ګر خيال نه ساتلو. او د غه رنګے د سعودي عرب بادشاهانو ډيرے پيرے جلا وطن کړے او جيل ته ئې اچولے دے. او غالب ګمان دا دے. چه د غه د سعودي عرب بادشاهانو دے مړ کړے هم دے. کله چې ئې دے په ۱۴۲۲ﻫ ذي الحجه کښې جيل ته اچولے وو. او بيا ئې رالوو ويستلو نو درے ورځے پس وفات شو. (رحمه الله رحمة واسعة)

السوال :ـ

محترم شيخ حمود بن عقلاء الشعيبيّ .

تاسو ته به څرګنده وي ـ چې مجاهدين په فلسطين ، چيچنيا او نورو ملکونو کې د دښمنانو سره جهاد کوي ـ او هغوی مرداروي ـ په يو قسم عملياتو چې فدائي عمليات ئې بولي ـ او هغه داسې چې مجاهد په ځان پسې چاوديدونکې مواد غوټه کړي ـ يا ئې په جيب او موټر وغيره کښې بعضې چاوديدونکې بمونه ځائې په ځائې کړي ـ بيا د دښمن د راجمعه کيدو ځايونو او يا هم کورونو ته ورننوځي ـ او کله ورته ځان داسې وښائي ـ چې زه تسليم شوم ـ بيا ځان والوځوي ـ د شهادت په نيت او د دښمن سره د جنګ او په هغې کښې د پوره زخم پيدا کولو په خاطر ـ

نو د داسې عملياتو څه حکم دے ؟ او آيا دا هم خودکشي (ځان وژل) بلل کيږي ؟ او څه فرق دے د خودکشي او فدائي حملې په منځ کښې ؟ جزاکم الله خيرا و غفر لکم ـ

الجواب :

الحمد لله رب العلمين ـ و الصلاة و السلام على أشرف الأنبياء و المرسلين و على آله و صحبه أجمعين ـ أما بعد :ـ

مخکې لدې چې په جواب پيل وکړم ـ بايد دا وپيژنې ـ چې

داسې عملیات دا د دې زمانې هغه پیداینښت دی ـ چې مخکې چا نه پیژندۀ ـ په هغه طریقه چې نن ترسره کیږي ـ او په هره زمانه کښې څه داسې نوي کارونه وي ـ خو علماء کوښښ کوي ـ چې دا په هغه نصوصو او عموماتو او مشابه واقعو باندې حمل او خاصکر هغه چې پخوانو علماؤ یکې د جواز فتوی ورکړې وي حمل کړي ـ

الله تعالی فرمائي : " ما فرطنا في الكتاب من شيء "

ترجمه : مونږ په قرآن کښې یو شئې هم ندی پریښې ، بلکې بیان موئې کړیدی ـ او همدغسې پیغمبرﷺ د قرآن په شان کښې فرمائي : فیه فصل ما بینکم ـ

ترجمه : په قرآن کې وضاحت دی ـ د هغه څه چې ستاسو منځ کښې پیښیږي ـ

نو فدائې حملې چې دي ـ دا یو جائز عمل دے ـ او د الله تعالی په لار کښې صحیح جهاد دے ـ کله چې ئې څوک په صحیح نیت کوي ـ او دا د جهاد ترټولو ستره د کامیابی وسیله ده ـ د هغه وسائلو څخه چې جهاد کښې د دښمنانو په ضد استعمالیږي ـ ځکه د دې له وجې چې په دښمن کښې کوم زخم او مرګ خاصکر چې کومه ویره او پریشانی پرې حاصلیږي ـ دا په بل څه نه حاصلیږي ـ او یدې مسلمانان هم په دښمن زړور کیږي ـ او په مقابل کښې د دښمن زړه پرې ماتیږي ـ او مرداران ئې زیاتیږي ـ سزاء ورته

میلاویږی . او د هغوی سپکاوی اوسر ټیټی پکی کیږی. او داسی نور جهادی مصلحتونه پکی دی .

او د دی په جواز کښی د قرآن او سنت اجماع او کیسی واقعی چی همدغسی شکل باندی واقع شوی . او پخوانو علماؤ پری فتوه ورکړی ده . انشاء الله ذکر کوو .

<u>أول د قرآن کریم څخه دلائل</u>

۱) . دا قول د الله تعالى : " و من الناس من يشري نفسه ابتغاء مرضات الله و الله رءوف بالعباد "

دا آیت صحابۀ دلیل کړی . د هغه یو کس لپاره چی په ډیر دښمن حمله وکړی . او ځان پکی بیالی . لکه عمر بن الخطابؓ او أبو ایوب الأنصاریؓ او أبو هریرهؓ چی فرمائیلی دی. په أبوداود او ترمذی کښی پری أحادیث دی . چی ابن حبان او حاکم صحیح کړی دی . تفسیر القرطبي ج ۲/۳٦۱ .

۲) . دا قول د الله تعالى : " ان الله اشترى من المؤمنين أنفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة يقاتلون في سبيل الله فيقتلون و يقتلون "

ابن کثیرؒ فرمائی . چی ډیرو علماؤ دا د هغه مجاهدو په شان کښی نازل بللی دی . چی د الله په لاره کښی جهاد کوی .

۳) . دا قول د الله تعالى : " و أعدوا لهم ما استطعتم من قوة و من رباط الخيل ترهبون به عدو الله و عدوكم "

ترجمه: او تياري وکړئ، د دښمن لپاره د هغه څه چې طاقت ئې لرئ تاسو، که قوت وي که د آسونو ځغلول وي، چې د الله او خپل دښمن پرې وه يروئ.

نو فدائي حملې هم هغه قوت دے. چې دښمن ترې سخت ډاريږي.

۴) ـ الله تعالى د هغه خلکو شان کښې چې وعدې ئې ماتې کړې دي فرمائي: " فاما تثقفنهم في الحرب فشرد بهم من خلفهم لعلهم يذكرون "

ترجمه: که راګير دې کړه. دوی د جنګ په ډګر نو داسې سزا ورکړه، چې بچې اويا هغه کسان چې جنګ ته ندي راغلي هغه هم وه يريږي، او بيا ياد وساتي.

<u>دويم له أحاديثو څخه دليلونه</u>

۱) ـ حديث د هلک او د هغه مشهوره کيسه چې بخاري او مسلم کښې ذکر ده: هغه بادشاه ته د خپل مرګ طريقه وښودله. نو هغه ئې شهيد کړو. او دا هم د جهاد يو قسم دے. پدې مسلمانانو ته ډيره فائده ورسيدله. ځکه د دغه ښارونو خلک ټول په دين کښې داخل شول. او وه ئې وئيل چې (آمنا برب الغلام) د هلک په رب مو ايمان راوړے دے. لدې څخه دليل داسې نيول کيږي. چې دغه هلک پخپله ځان غرغره کړو. او د ځان په مرګ کښې پخپله سبب شو. ځکه بادشاه ته ئې طريقه وښودله د خپل مرګ. ځکه بادشاه خو دا په بله طريقه نشو

وژلې ۔ دا د دین مصلحت او خیر خواهی لپاره ۔ او داسی کار د جهاد په باب کښي روا دی ۔ نو فدائی حمله هم دغسی ده ۔ ځان وژل د جهاد د فائدې لپاره ۔ او د دی لپاره زمونږ په دین کښی بنیاد شته ۔ ځکه سړے چی کله د ثواب لپاره أمر او نهی کوی ۔ او خلک هم د ده د أمر او نهی پسی روان وی ۔ تردی چی وه وژلے شی ۔ نو دا مجاهد او شهید دے ۔ او د دی په خیر وینا پیغمبر ﷺ کړیده فرمائی : بهتر جهاد د ظالم بادشاه په وړاندی د حق خبره کول دی ۔

۲) ۔ د براء بن مالک عمل د یمامی په جنگ کښی وائی : چی په ډال کښی ئی کینوه ۔ او په نیزو ئی وچت او دښمن ته ئی وغورځوه ۔ بیا ئی جنگ کوو ۔ تر څو ئی دروازی ته ځان ورسوه ۔ او خلاصه ئی کړه ۔ او یو صحابی هم دا کار پری بد ونهٔ ګڼړهٔ ۔ او کیسه ئی په بیهقی کتاب السیر باب التبرع بالغرض للقتل (۹/ ٤٤) او تفسیر قرطبی (۲/ ۳٦٤) أسد الغابه (۱/ ۲۰٦) تاریخ الطبری کښی ذکر ده ۔

۳) ۔ سلمة بن الأكوع او د أحزم الأسدی او د أبوقتادة دوی دری سرو په عیینة بن حصن او د هغه په ملګرو حمله وکړه ۔ او پیغمبر ﷺ ئی صفت وکړو۔ او وه ئی وئیل ۔ (خیر رجالتنا سلمة) بهتر تلونکی زمونږ سلمة دی ۔ (متفق علیه)

ابن نحاس وائی پدی صحیح او ثابت حدیث کښی واضح دلیل دے ۔ چی یوازی سړے په دښمن که څومره هم ډیر وی حمله

کولائی شی ۔ اگر که دا یقین ئی وی ۔ چی مړ کیږم پکی ۔ کله چی ئی نیت د شهادت غوښتل وی ۔ لکه سلمة بن الأکوع او الأسدی چی وکړه ۔ او پیغمبرﷺ پری هیڅ عیب وه نه وایه ۔ او نه ئی صحابه کرام له داسی کار څخه منع کړل ۔ بلکی حدیث کښی دلیل دے ۔ چی دا بهتر کار دے ۔ څکه نبیﷺ د أبو قتادة او سلمة صفت وکړو ۔ سره لدی چی هریو یوازی په دښمن حمله کړی وه ۔ مشارع الأشواق (۱/٥٤٠)

۴) ۔ د هشام بن العامر الأنصاری شجاعت کله ئی چی په یو ځان د دښمن لیکو ته ځان ورسوو ۔ او په ډیر دښمن ئی حمله وکړه ۔ بعضو خلکو چی دا کار ښه ونه ګڼړۀ او وه وئیل چی ځان ئی هلاکت ته وه غوځوه ۔ نو عمرؓ او أبو هریرةؓ پری خبره رد کړه ۔ او دا آیت ئی وه لوسته: و من الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله ۔ (مصنف ابن أبی شیبة:٥/٢٠٢٢٢٠٢) سنن البیهقی (٤٦/٩)

۵) ۔ أبو حدرد الأسلمی او د هغه دوه ملګرو په لوئی لښکر حمله وکړه۔ دوی سره څلورم کس نه وو ۔ او الله تعالی ورته بری نصیب کړه ۔ په مشرکانو ۔ ابن هشام په خپل سیره او ابن نحاس په مشارع الأشواق کښی (۱/۵۴۵) ذکر کړی ۔

٦) ۔ عبد الله بن حنظلة الغسیل چی په خلاص تیر ئی جنګ وکړو ۔ څغره ئی وغورځوله تر څو شهید شو ۔ (ابن نحاس مشارع الأشواق، ۱/٥٥٥)

۷) ۔ بیهقی په خپل سنن کښی (۴۴/۹) ذکر کړی ۔ د هغه سړی په شان

کښې ـ چې د أبو موسی د خولې ئې حدیث واوریدو ـ (الجنة تحت ظلال السیوف) جنت د تورو د سیورو لاندې دے ـ نو یو سړے پاسیدو او د توری تیکې ئې مات کړه ـ او په دښمن ئې حمله وکړه ـ جنګ ئې کوو ـ تر څو شهید شو ـ

٨) ـ کیسه د أنس بن النضرؓ د أحد په واقعه کښې چې وه ئې وئیل: واه د جنت خوشبوئې ـ بیا ئې جنګ کوو د مشرکانو سره ـ تر څو شهید شو ـ (متفق علیه)

دریم اجماع

ابن نحاس په مشارع الأشواق کښې (١/ ٥٨٨) د مهلب قول ذکر کړے ـ چې فرمائي: پدې اجماع ده ـ چې سړے جهاد کښې د هلاکت ځایونو ته ننوځي ـ او د غزالي څخه په (الاحیاء) کښې هم نقل دی ـ وائي: پدیکې خلاف نشته چې یو کس د کافرو په صف کښې داخل شي ـ او جنګ کوي ـ اګر که پوه شي چې وژلے کیږم ـ او نووي د مسلم په شرحه (١٢/ ١٨٧) کښې ذکر کوي: پدې اتفاق دے ـ چې جهاد کښې څوک ځان غرغره کړي ـ دا ئې په بحث د غزوة ذی قرد کښې ذکر کړی ده ـ

دا اوه (٧) واقعې چې مخکې تیرې شوې ـ دا هغه دی چې فقهاء ئې په کتابونو کښې په داسې شکل ذکر کوي ـ چې (حمل الواحد علی العدو الکثیر) د یو کس په ډیر دښمن حمله کول ـ او کله ورته د

(الانغماس في الصف) د کافرو په صف کښې ننوتل، او يا هم ورته (التعزير بالنفس في الجهاد) جهاد کښې ځان غرغره کول نوم ږدي.

نـووي د مسـلم پـه شرحـه کښې وائـي: (بـاب ثبوت الجنة للشهيد)(١٣ /٤٦) د شهيد لپاره جنت شته. بيا وائي. پديکې د کافرو منځ ته ننوتل. او ځان شهادت ته پيش کول ذکر دي. او دا بغير له کوم کراهت څخه جائز دي. د جمهورو په وړاندې.

او قرطبيّ په خپل تفسير کښې ذکر کوي. چې د يو کس په ډير دښمن حملـه کول. د ډيرو مالکيانو په نزد جائز کار دے. تردې چې بعضې وائي. يو کس په سلو (١٠٠) يا په لوئې لښکر يـوازې حملـه کـولائې شي. اګـر کـه ګمان ئې دا وي. چې وژلے کيږم. کـه چرتـه ئې په دښمـن کښې ښه زخم او أثر کولائې شو. چې مسلمانانو ته پرې فائده رسيږي.

او همدغسې محمد بن الحسن الشيبانيّ څخه نقل دي. چې هغه وائي: کـه يـو کس په زرو (١٠٠٠) مشرکانو باندې يو اځې حمله وکړه. پديکې هيڅ وبال نشته. کله چې د ځان د خلاصې او يا په دښمن کښې د زخم جوړولو طمع ئې وي. تفسير القرطبي (٢ /٣٦٤)

نو کله چې ځان قربانول په يوازې حمله کولو په دښمن. او د کافرو په ليکو کښې ننوتل ځان غرغره کول. او هلاکت ته پيش کول. جائز شول. نو دا مسئلـه په فدائي حملو بلکل چسپان ده. چې

مجاهد ځان غرغره کړي ـ او د کافرو د ټوليدو ځائي ته ورشي ـ او په هغوی کښې مرګ ژوبله او زخمونه جوړ کړي ـ

<u>بعضي هغه مسئلي چې د فدائي حملو سره سمون خوري</u>

أوله : مسئله د ډال نيولو :

هغه دا چې کله د کافرو لښکر مسلمانان بنديان مخې ته ډال کړي ـ او مجاهدين مجبور شي ـ هغوی جنګ نشي کولائي مګر دغه بنديان مسلمانان چې کافرو ډال کړي دي ـ تري وژل کيږي نو جائز ده ـ چې دغه ډال شوي مسلمانان وه وژني ـ ابن تيميه په مجموعة الفتاوی (۲۰/ ۵۲)(۲۸/ ۵۳۷،۵۳٦) ـ هغه وائي کله چې کفار په بنديانو مسلمانانو ډال ونيسي ـ او مسلمانان داريږي ـ که جنګ نه کوو ـ څه مشکل پيښيږي ـ او که کوو ئي ـ مسلمانان راڅخه مړه کيږي ـ نو جنګ دي وکړي ـ اګر که هغه مسلمانان چې کافرو ډال کړي دي پکې وه وژلي شي ـ

او ابن قاسم په حاشيه د الروض (۴/ ۲۷۱) کښې وائي ـ چې په (الانصاف) کښې وئيلي دي ـ که کفارو يو مسلمان ډال کړو ـ نو بيا به هغوی نه ولي ـ مګر که مسلمانانو ته ضرر رسيدو ـ بيا به ئي ولي ـ خو قصد به ئي د کافرو ويشتل وي ـ او په دي کښې هيڅ اختلاف نشته ـ

پدي مسئله کښې زمونږ لپاره دليل داسې دے ـ چې د کافرو د وژلو لپاره کله مسلمان وژل هم جائز کيږي ـ د مسلمان په سلاح

بانـدې. او د مسـلـمـانـانـو پـه لاسـونو ـ هغه دا چې کله د کافرو وژل او زخمـي کـول ـ د هغه مسلمانانو د وژلو څخه بغیر نه کیږي ـ کوم چې کـافـرو نیـولـي او ځـان لیــاره ئـې ډال کـړیـدي ـ نو د کـافرو وژلو لپـاره مسلمانان قربان شول ـ او دا د ځان قربانولو څخه سخت دی ـ ځکه د بل مسـلـمان وژل ـ د ځان د وژلو څخه سخت جرم دے ـ ځکه د بل مسلمان وژلـو کښـې دی په هغهٔ ظلم او تعدا ده ـ نو ضرر دی دوچند شو. او ځان وژلـو کښـې خـو بـل چا تـه ضـرر نه رسیږي ـ تاته فقط رسیږي ـ خو د جهاد پـه بـاره کښـې دا هـم جـائز ده ـ چې بل مسلمان وه وژني ـ نو کله چـې د کـافـر د وژلـو لپـاره مسـلمان خپل مسلمان ورور پـه خپلو لاسونو وژلـي شـي ـ نـو ځان خو په طریقه اولی سره وژلی شي ـ د دښمن د وژلو لپـاره ـ ځکه کله چې هغه کار جائز شو ـ چې غټ جرم وو. نو هغه کار چـې جـرم ئې کم دے خامخا جائز دے ـ او مقصد په دواړو کښې یو دے ـ چې د کـافـر وژل دي ـ او حـدیث کښې هم دی. (انـمـا الأعـمـال بالنيات) د عملونو ثواب او وبال په نیت ورکولے کیږي.

او پـدیـکـې رد شـو ـ پـه هـغـه چا چې وائي ـ د کافرو لیکو ته ننـوتـل او یـا یـوازې ـ پـه هـغې حمله کول ـ پدیکې د کافر په سلاح او لاسـونـو ځـان وژل دي ـ نـو مونږ وایو چې د ډال نیولو په صورت کښې مسلمان د مسلمان په لاس او سلاح وژل کیږي ـ او سره لدې هم دا هغه وژنه نده ـ په کوم کښې چې وعید راغلے دے ـ

دوهم: د شپې حمله کول

د شپې حمله کول ـ او دښمن وژل زخمي کول ـ پدیکې هم هغه څوک وژلې کیږي ـ چې وژل ئې روا نه وي ـ لکه د کافرو ماشومان او زنانه ، او حالانکه دا جائز ده ـ لکه ابن قدامه وائي ـ د شپې په دښمن حمله کول جائز دي ـ او امام أحمد وائي د شپې حمله کولو کښې هیڅ وبال نشته ـ او د رومیانو سره غزا نه وه مگر د شپې وه ـ او فرمائي مونږ ته هیڅوک ندي معلوم چې د شپې حمله ئې بده گنړلې وي ـ (المغني مع الشرح ۱۰/۵۰۲)

دلیل تري داسې نیسو چې کله چې د هغه چا مرگ چې مرگ ئې ندے جائز د دښمن د وژلو او شکست ورکولو لپاره ئې مرگ جائز شو ـ نو مجاهد خپل ځان هم وژلے شي ـ د دښمن د وژلو او شکست لپاره هغه ځان چې وژل ئې ناروا وو ـ ځکه که د جهاد دا مقصد دا نه وے نو د کافرو بچي او زنانه وژل جائز نه وو ـ

<u>خلاصه</u>

له مخکي دلائلو څخه واضحه شوه ـ چې جائز ده ـ چې سړے ځان په فدائي حمله کښې غرغره کړي ـ دې لپاره چې دښمن وه وژلے شي زخمي شي که د کافر په سلاح وي ـ لکه د کافرو صفونو کښې ننوتل او ځان غرغره کول ـ او یا د مسلمان په سلاح او لاسونو لکه د ډال په صورت کښې چې بندي مسلمانان وژلي کیږي ـ او یا په داسې

لاړښونه چې هغه ستا د مرګ سبب شي ـ لکه هلک چې بادشاه ته وښوله ـ دا ټول برابر دي ـ د جهاد باره کښې ځکه د جهاد داسې لوئې مصلحتونه دي ـ چې ډېر مسائل پکې بښلي شوي دي ـ چې په بل وخت کښې نه بښلي کيږي ـ لکه دروغ او دهوکه ، او سنت په دې ګواه دي ـ همدغسې وژل د هغه چا چې وژل ئې نوي جائز نو دا د جهاد د مسئلو قاعده شوه ـ ځکه پکې فدائي حملې هم داخلې شوې ـ

او هر چې د فدائي حملې قياس په خوکش دے ـ دا قياس مع الفارق دے ـ ځکه دلته لوئې فرقونه دي ـ چې دواړه سره جلاء کوي ـ د خودکشۍ لامل بې صبري ، تلوار ، په تقدير غوسه او څه چې په تقدير کښې ليکل شوي وي په هغې اعتراض وي ـ او مرګ زر غوښتل وي ـ او يا د دردونو ، زخمونو ، عذابونو او د مرض څخه د رغيدو مايوسي او غوسه وي ـ چې دا ټول الله تعالى نه خوښوي ـ

مګر د فدائي حملې لامل ځان قربانول ـ په خوشحالۍ او ورين تندي دے ـ د شهادت او جنت او هغه څه چې د الله تعالى سره دي غوښتل دي ـ او د دين مدد او کافرو ته سزا ورکول ـ او د الله تعالى په لار کښې جهاد کول دي ـ دواړه ندي برابر ـ

الله تعالى فرمائي : " أم حسب الذين اجترحو السيئات أن نجعلهم كالذين آمنو و عملو الصالحات سواء محياهم و مماتهم ساء ما يحكمون "

ترجمه : آيا ګمان کوي ـ هغه کسان چې ګناهونه کوي ـ چې

مونږ به ئې د مؤمنانو او نیکانو پشان د هغوی سره مرګ او ژوند برابر کړو ۔ ډیره بده فیصله کوی ۔

او همدغسې فرمائی :" أفمن كان مؤمنا كمن كان فاسقا لا يستوون"

ترجمه : آیا هغه څوک چی مؤمن وی ۔ د هغه پشان دی چی فاسق وی ندی برابر ۔

په آخر کښې الله تعالی څخه غوښتونکی یم ۔ چی خپل دین مظبوت کړی ۔ او خپل لښکر ته عزت ورروه بښی ۔ او دښمن خپل سرکوب کړی ۔

و صلى الله تعالى على نبينا محمد و على آله و صحبه أجمعين

لیکونکی او ویونکی : أـ حمود بن عقلاء الشعيبيّ

٢/٢/١٤٢٢هـ

<u>د محترم شیخ علي بن خضیر الخضیر فتوی د فدائي حملو باره کښې</u>

**سؤال :** محترم شیخ علي بن خضیر الخضیر ...... حفظه الله ،

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته ،

تاسو ته دې معلومه وي ـ چې مونږ ستاسو شاګردان یو ـ او زمونږ وطن کښې د فدائي حملو متعلق مختلفې خبرې کیږي ـ مونږ خواهش لرو ـ چې ستاسو رأیه پدې مورد معلومه کړو ـ وفقکم الله و أعانکم و جزاکم الله خیرا ـ

ستاسو بعضې شاګردان

**الجواب** : الحمد لله وحده و الصلاة و السلام علی من لا نبي بعده ...... و بعد و علیکم السلام و رحمة الله و برکاته ـ

فدائي حملې جهاد بلکې د جهاد بهتر قسم دے په نن صبا کښې ـ او په دې څه دلائل دي چې بعضې ئې دا دي ـ

۱) ـ د الله تعالی قول : " و من الناس من یشري نفسه ابتغاء مرضات الله والله رءوف بالعباد "

۲) ـ د مسلم حدیث چې پیغمبر ﷺ د کوم ماشوم هلک واقعه او د أصحاب الأخدود واقعه په هغې کښې هلک د ځان په وژلو أمر وکړو د دین د خکاره کیدو په خاطر ـ لکه ابن تیمیه په الفتاوی (۲۸ / ٥٤٠) کښې وائي : هلک د ځان د وژلو امر وکړو دی لپاره چې دین خکاره شي ـ

۳) ـ بیا ابن تیمیه وائی : لدی کبله څلورو امامانو د کافرو په لیکو کښې د مسلمانانو ننوتل رواء بللی دی ـ چې د مسلمانانو یکې خیروی ـ

۴) ـ حدیث د بخاري او مسلم : "انما الأعمال بالنیات "

۵) ـ قیصه د براء بن مالک ـ د یمامی په معرکه کښې هغه ئی په ډال کښې پورته کړو ـ او دښمن ته ئی وه غورځوو ـ جنګ ئی کوو ـ تر څو ئی دروازه کولاؤ کړه ـ او یو صحابی هم پری بد ونه ګڼړل ـ

او کیسه ئی په بیهقی کتاب السیر (۹ /٤٤) تفسیر قرطبی (۲/ ۳٦٤) أسد الغابة (۱/ ۲۰٦) او تاریخ الطبری کښې مذکوره ده ـ دا مې ستاسو د غوښتنې لپاره په لنډ ډول ذکر کړه ـ او لدی سره مې د محترم شیخ العلامه حمود بن عقلاء الشعیبی فتوه ملګری کړه ـ چې د فدائی حملو د جواز او فضیلت باره کښې ئی ورکړی ده ـ هغه پوره او کره أوګد بحث پری کړیدے ـ دلائل ئی ذکر کړی ـ او د مخالفینو په دلائلو ئی رد هم کړے ـ

فجزاه الله عن الاسلام و المسلمین خیر الجزاء ـ زما سلام په خپلو ملګرو کوم چې تاسو سره دی ورسوی ـ

و السلام علیکم ورحمة الله و برکاته ـ

ستاسو ورور : علی بن خضیر الخضیر ٥ /۲/ ۱٤۲۲ه

القصیم ، بریده